کاروان

لوبه، تاریخی او اجتماعی

Feb Wed 1961

۱۲

پرله پسې ګڼه ۴۹۷

عبد الله بختانی

اختر دې مبارك شه!

دزړه آرزو می شوه په نوې تمنا بدله
چه په هوا کښې غیر راغی شوه فضا بدله

دنوی کال دنو بهار د هر کلی د پاره
دیار په شونډو کښې ښکاره شوله موسکا بدله

وخت د یخ تیر دی نو اختر دې مبارك شه آشنا!
په غړو لوستر گوو گوره د نیا بدله

بوټی له خاورو نه جگېږی، گل له بوټی وزی
حجاب نه وزی مستوری ده تقاضا بدله

دخرابات زوړ گنهکار زاړه خمونه کړل مات
د میو جام دی بدل شوی، هم مینا بدله

د ژوند سرود نوی آهنگ نوی مقام غږ وی
د بینوا بلبل نغمه کښې شوه نوا بدله

په خوشحالۍ کښې دغمجنو لبز تپوس دی په کار
د زړه آواز د بختانی کړله وینا بدله

کاروان

کب (۱۳۳۹ ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹۶۱ ع) کال فروری او مارچ

ادبي ، تاريخي او اجتماعي

امتياز : د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدير : محمد حسن کاکړ

د تيلفون نمبر : ۲۱۲۹۱

پته : شېر علي خان وات
نوی ښار ، کابل
افغانستان

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیك	لیکوال	مخ
۱:-	مونږ دوستی لمانځو	اداره	۱
۲:-	دافغان او شوروی....	الفت	۲
۳:-	لیار	سعید«افغانی»	۷
٤:-	زیګموندفروید	داتیك خیل ورد ګ ترجمه	۹
٥: -	دماستر کریم ادبی شخصیت	مولانا خادم	۱۳
٦:-	اشعار	دځینی شعراوو	۱۷
۷:-	رنې او ښکې	عبد القدوس« تندر»	۲۳
۸:-	ګرامر	محمدرحیم«الهام»	۲۹
۹:-	شپه او ورځ د...	قدرت الله«حداد»	۳٦
۱۰:-	روسی نجلۍ	د-ناصر نصرت ترجمه	٤۱
۱۱:-	دنړۍ ادبیات	د-میرا کبرتر جمه	٤۹
۱۲:-	په پښتو کښې دلهجو ...	د-جیب الله«تبزی» ترجمه	٥٥
۱۳:-	ځما انتخاب	میاجان «اقرار»	٥۷
۱٤:-	دلوممبا په یاد . . .	:	

کالنی اشتراك

په کابل کښې ۳۲ افغانۍ

دهېواد په نورو برخو کښې ۳٦ افغانۍ

دمعارف زده کوونکوته نیمه بیه

شپږ ومیاشتو اشتراك هم منل کېږی

مونږ دوستي لمانځو

څلويښت کاله پخوا په ۱۹۲۱ کښې مستقل افغانستان او شوروی اتحاد، ددوستۍ لاسونه سره ور کړل- اويو تربله يې دروغ نيتۍ او روغې سولې - اوديوه بل په داخلي چارو کښې دنه ګوتې وهلو- تړون وکړ. په دې ډول داسيا په دغې برخې کښې ديو بل په ګاونډيتوب کښې دګډ ژوند تا د او کښيښود شو.

اودوه مختلفو اجتماعي اوسياسي طرزونو يو بل ته په احترام او درانه نظر وکتل.

سره ددې چه نزديتوب او ګاونډيتوب کښې وقايع حتمي وي خوله ښه مرغه په دې دغومره اوږده موده کښې هرڅه چه زمونږ دوه هيوادو ترمينځ پيښ شوي دي دوستانه او هغه دهمدې تړون په رڼا کښې وو.

چه زمونږ مناسبات يې لاهم پسې ټينګ کړي او دواړه ولسونه يې يو بل ته نزدې کړي دي.

دګډ ژوند يو عملي او ښکاره مثال زمونږ او دشوروی ترمينځ همدغه دوستانه مناسبات دي - چه په دې څلويښتو کلو کښې يې ښه امتحان ور کړي دي.

نودا دواړه ولسونه حق لري- چه دخپلې دوستۍ څلويښتم کال کښې جشنونه او خوښې وکړي - او په خوښ زړه دغه مبارك تقريب ولمانځي - په تيره بيا چه په دې وروستيو کلونو کښې اقتصادي -تخنيکي همکاري ورسره زياتي شوي او هنري او کولتوري مبادلاتو يې خوند اومزه ورزياته کړې ده.

د حوت په لسمه دهمدغې ورځې په وياړ دلته او په شوروی کښې جشنونه ونيول شول غونډې او مرکې وشوې او پوهانو او لويانو او د کولتور دهراړخ نمايندګانو په کښې ګډون وکړ - او نطقونه يې واورول. له هغو جملې څخه يوه ډيره ستره ټولنه د کابل په هوتل کښې وه - چه افغانستان او شوروی ددوستۍ دټولنې لخوا بلله شوې وه.

د ټولنې مشر - ښاغلی ګل پاچا الفت او ږده وينا په کښې واورو له - چه دا دی ګرانو لوستونکو ته يې وړاندې کوو - ور پسې د همدغه ښاغلی بله وينا هم چاپو وکومه چه ده دهمدغې ورځې په ماښام د کابل راډيو په فوق العاده پروګرام کښې اورولې وه «اداره»

د الفت وینا

د افغان او شوروی د دوستۍ

د څلوېښتم کال په مناسبت

الفت دو ینا په حال کښې

کرانو دوستانو ! دوستی پالونکو او دوستی خوښوونکو!

پیغلو ! مېرمنو ! او ښاغلو !

مونږ او تاسې دلته د دوستۍ په بلنه راغونډیو او د دوستۍ لمانځنه کوو .

هغه دوستی چه د افغان ملت او د اتحاد جماهیرشوروی دخلقو ترمینځ موجوده ده اوسنۍ نه ده پخوانۍ ده .

څلوېښت کاله پخوا د دې دوستۍ ترون د شوروی اتحاد دستر تو امشر فقید لینن په وخت کښې وشو چه اوس بې دتلین سراسم نیول شوی .

څلوېښت کاله هغه عمر دی چه انسان په کښې پخیزی او عقل و پوهه په کښې دې برو تجربو په حاصلو اورشد او کمال ته رسیږی ځکه وایم چه دا دوستی پخه او تجربه شوې دوستی ده .

د شیطان غوږونه دې کټه وی - په دې دومره اوږ ده موده کښې د دې دواړو دوستانو ترمینځ هیڅکله داسې څه نه دی پیښ شوی چه د دوستۍ رنګ او خوند یې بد کړی وی .

هو! دا دوستی بدرنګه او بېخونده نه ده . په دې دوستۍ کښې له دواړو خوا و ښه نیت- ښه نظر او ښه سلوك لیدل کیږی .

زمونږ او د اتحاد شوروی ترمینځ د آموسیند بهیږی یعنی د دواړو هیواد و ترمینځ ملایمت موجود دی او د دوستۍ آب په ښه شان ساتل شوی دی .

دا لطیف سرحد دواړو خوا و ته ملایمه رویه ښیي او د حسن نظر مانع کیږی نه .

افغانستان او شوروی اتحاد هغه دوه ګاونډیان دی چه سیاسی او اجتماعی رژیمونه یې

مختلف دی - د ژوندانه طرز او ډول یې بېل دی - دافکار و اوعقاید وپه لحاظ یوله بله ډېر فرق لری مگر سره له دې - دواړه دسولې اوروغ نیتی په رڼا کښې ژوند کوی او ډېر ښه دوستانه - مناسبات لری .

په دوستۍ کښې داقوت او قدرت موجود دی چه مسلم او غیر مسلم سره پخلا کړی - تور اوسپین سره اشنا کړی - خدای پرست - غیر پرست اوځان پرست یو دبل په ځنگ کښې ودروی اویو دبل مرستې ته تیار کاندی .

لکه چه وایی موسی به دین خود وعیسی به دین خود - کیدای شی چه دوه دوستان مختلف عقاید ولری اویوهم دبل له معتقداتو سره نه تصادم و کړی اونه موافقت .

د دغسې دوستۍ یوښه مثال دافغان او شوروی دوستی ده چه د بشر دوستۍ په لوړ احساس او دگډ ژوند په اساس بناده .

ددې دوستۍ مهم او بارز صفت دادی چه دبې طرفۍ به سیاست اتکاء لری او دنورود ښمنی ورسره تړلې نه ده یعنی دادوستی به مونږ باندې دانه تحمیلوی چه له نوروسره دښمنی و کړو او دچا به د ښمنۍ د خپلو دوستانو خوښی اورضاء حاصله کړو .

همه دوستی چه ځوك دچا دښمنۍ ته مجبوروی یا له سړی نه دازاد قضاوت حق غصبوی به حقیقت کښې دوستی نه ده غلامی ده او دبشر دوستی مخه نیسی .

مونږ هیڅکله داسې دوستی نه خوښوو چه به زړه کښې یې دبل چا سره د ښمنی پټه وی یا به حقیقت کښې له ځان سره دښمنی وی .

مونږ ته خپل ملیت اوملی استقلال ډېر گران دی ځکه له هغه چاسره دوستی کوو چه زمونږ ملی نوامیسو - اجتماعی شخصیت او افغانی وقار ته په درانه نظر گوری او قدر یې کوی .

هغه دوستی چه مونږ د دوستۍ له کوره د جنگ لور ته راکاږی زمونږ نه ده په کار مونږ هغه طرف نه نیسو چه زمونږ بې طرفۍ ته زیان رسوی .

مونږ په دوستۍ پوهیږو او دوست پیژنو .

هغه ځوك چه له چاسره ددې دپاره دوستی کوی چه ځانته دجنگ دپاره ملاتړ پیدا کړی اودښمن په دوست ووهی ، هغه به حقیقت کښې دوست په دښمن وهی او ددوستۍ په نامه دښمنی کوی .

مونږ غواړو چه دوستی د بشرا و بشریت دخیراو گټی دپاره وی او ددوستۍ په پیدا کیدو له جهانه دښمنی ورکشی .

مونږ په دې پوهیدلی یو چه دښمن محوه کول دښمنی ده او دښمنی محوه کول دوستی ده .

ددې عصر انسانان باید د پخوا زمانې له انسانانو نه همدغومره فرق ولری چه د دښمن ورکولو ته ملاونه تړی بلکه له جهانه دښمنی ورکه کړی اوله دښمنۍ سره مجادله شروع کړی .

ددې مجادلې دپاره توپونه، ټانکونه، او خطرناك بمونه نه دی په کار. دا کار ددوستۍ په توره کیږی او یوازې دوستی ده چه د خونړیو جګړو مخه نیسی.

که ددوستۍ رڼا په رښتیا د خلقو په زړونو کښې پیدا شی، او دغه د سولې پیغام هر زړه ته لار ولری، باور لرو چه د جهان اوسنی کړکیچونه ګواښونه ـ کرکې او ناندرې به ورکې شی، او یار به دیار دپاره خوری د غوایی غوښې.

ښای چه اوس به څه نه څه دا معلومه شوې وی چه مونږ څنګه دوستی غواړو او د څه د پاره یې غواړو.

هغه دوستی چه مونږ یې دوستان یو بې ضرره او بې خطره دوستی ده، او د دنیا د سولې او روغې ساتلو دپاره ګټوره ده.

ددغسې دوستۍ لاس که له هر ې خوا زمونږ خواته را اوږدشی مونږ لاس ورغځوو او ټینګ یې نیسو.

مونږ خپله دوستی له اتحاد شوروی سره یوازې دځان دپاره نه، بلکه د جهان دپاره مفید ګڼو.

مونږ سر بیره په دې، چه له مسلمانو ملتو سره اسلامی ورورولی، له هر چا نه ښه ساتو له نورو ملتو سره هم د بشر دوستۍ په اساس دوستی غواړو او بشر دوستی دیوه لوړ انسانی احساس غایه او نتیجه ګڼو.

زمونږ دوستی له اتحاد شوروی سره که هم پخوانۍ ده مګر په دې څو روستیو کلونو کښې یې ددواړو خوا ود مشرانو په توجه او تګ راتګ ډیر ښه انکشاف وموند

همدا رنګه د کلتوری هیئتونو ـ هنرمنو او هنر ښودونکو په راشه درشه دا دوستانه مناسبات ورځ په ورځ نور هم ټینګ شو.

هغه اقتصادی او تخنیکی مرستې، چه دغه دوست مملکت یې بې د سیاسی، قید او شرطه له مونږ سره په عمرانی او عرفانی چارو کښې کوی زمونږ د خلقو خوښی او خوشبینی یې ډیره زیاته کړیده.

مونږ خوښ یو چه د دواړو ملتو د ښې پیژندګلوی ـ موثر وسایل په کار لویدلی او د کلتوری تړون په وجه ورځ په ورځ یو د بل ارت ـ صنعت ـ هنر او ادب سره نور هم اشنا کیږی.

مونږ دیوه دوست په حیث ـ د شوروی اتحاد هغه ښکاره علمی پیشرفت او لوړتیا چه دنیا پرې قایله ده په ښه نظر ګوروا وهیله لرو چه دغه قوت او قدرت به په ښه لاره کښې استعمال شی او نور وته به یې هم ګټه او خیر ورسیږی.

نو مونږ په خپل دوست او ګاونډی مملکت دا پیرزوینه لرو چه د دنیا د سولې په ساتلو کښې درنه او ښکاره برخه واری او خپل لوی او لوړ حیثیت نیکنامه او روښانه وساتی.

په اخره کښې وایم: ټینګه دې وی دافغان او شوروی دوستی او روغ نیتی.

تل دې وی په جهان کښې روغه او سوله. خوښ او خوشحاله دې وی دوستان او ددوستۍ بالونکی.

الفت

.....

دښاغلی الفت هغه وینا چه دافغان او شوروی دوستۍ د څلو یښتم تلین په مناسبت یې د حوت په لسم ماښام له کابل راپیو نه وکړه.

گرانو اوریدونکو!

څلو یښت کاله کیږی، چه د افغان او شوروی اتحاد ترمینځ ډیره ښه دوستی موجوده ده او یوله بله د وستانه مناسبات لری.

په همدغه مناسبت نن په دواړو دوستو او گاونډیو هېوادو کښې د دوستۍ د څلویښتم کال د تلین مراسم نیول شوی.

دا دوه همسایه ملتونه د دوستۍ په قدر او قیمت ډیر ښه پوهیدلی دی او هر یوه د بل په مقابل کښې د ښه نیت او ښه سلوك ډیر ښه امتحان ور کړیدی.

دا یو څرگند حقیقت دی چه افغان ملت د دوستۍ په ساتلو او پالو کښې ډیره ښه سابقه لری او کولی شی چه د خپل ملی موجودیت او د خپلو اجتماعی شئونو او نوامیسو له ساتلو سره په بین المللی او جهانی ساحه کښې د دنیا له نور و اقوامو سره دوستی وپالی او د جهانی خپلوۍ بنیاد ټینگ کړی.

د دوستۍ احساس او د دوستانو د پیدا کولو فکر له ډیرې پخوازمانې نه په انسانانو کښې پیدا شوی، او د بشر په خټه کښې د مینی او محبت جذبه موجوده ده، مگر څومره چه انسان او انسانیت ترقی کړې او د بو هې دایره یې پراخه شویده هغومره یې د دوستی هم د کم او کیف په لحاظ او د مدارج طی کړیدی.

یو وخت وچه د انسان دوستی او پیرزوینه یوازې د ځان او د خپلې کورنۍ په محدوده ساحه کښې ایساره وه، او هر چاله خپلو نزدې خپلوانو او خیښانو سره د وستانه تعلقات لرل. بیا دغې دوستی په مرور د زمان د وطن او ملت په پراخه ساحه کښې نشوونما و کړه او پس له ډیرو عمرونو د بشر د وستۍ لوړ او عالی مفهوم راپیدا شو او انسان مطلق انسان ته په مینه او محبت و کتل.

او س په دغه عصر کښې چه مونږ ژوند کوو د دنیا مختلف ملتونه په دې پوه شویدي چه د هیواد ونو، ملتونو د دوستۍ د ننني اجتماع یو مهم ضرورت دی او د دنیا سوله په دې ساتله کیږی چه د مختلفو رژیمونو او د مخالفو عقاید و خاوندان د گډ ژوند له اصولو سره سم د مساوات او متقابل احترام په اساس یو د بل دوستان شی، او په د وستانه فضا کښې ژوند وکړی.

ددې فکر پالنه اوس اکثراً د بې طرفو مما لکوله خوا کیږی او با ورلر و چه لمن به بې ورځ په ورځ براخه شی .

څنګه چه دنن ورځې انسان د ذهن او دماغ له خوا د حیات په ټولو برخو کښې له پخوانه زیاته ترقی کړیده او دزړه له پلویې هم د دوستۍ په کار کښې له پخوانه نظر لوړ شوی او د کرکې په کمو لو کښې تر ډیره حده بریالې شو یدی .

د افغان ملت په عنعناتو او روایاتو - په تاریخ او ادب کښې د حقیقت ډیر ځلا ند او روښان معلومیږی، چه دغه ځان ساتونکی او ځان ارونکی ملت په نورو کښې هیڅکله نه محوه کیږی مګر له نورو سره د مساوات او متقابل احترام په اساس دوستی کولی شی او د انسانی ملګرتیا او بشری ورور ولۍ په ښه سلوک ډیر ښه پوهیږی .

د اتحاد جماهیر شوروی لوی او ستر ملت چه له افغانی فطرت او تاریخ سره ښه اشنادی، او له ډیر ې مودې یې له افغانستان سره خپل دوستانه مناسبات په ښه شان ساتلی دی ، نو خپله زړه دوستی یې له مو نږ سره نوره هم ټینګه کړه او زمونږ د بې طرفۍ سیاست ته یې په درانه نظر و کتل .

همدغه د روغ نیتۍ اوښې پیرزوینې اثر دی چه د افغان او شوروی دوستی ددواړو خواو په حسن نظر او ښه التفات ورځ په ورځ و ده کوي او کلتوری تعلقات یې وخت په وخت زیاتیږی .

څنګه چه د دواړو هیوادو مشران او لویان هم د ښو تعلقاتو او دوستانه مناسباتو ټینګولو او زیاتولو ته ښه توجه لری او هغه هنری او کلتوری هیئتونه چه له یوه هیواده بل ته ځی او راځی داد وستی نوره هم ټینګوی او پالی یې .

دا دوستی ددواړو ملتو د پاره د ښه ژوند کولو او یو دبل په کار کښې دنه مداخلې ډیر ښه تضمین دی، او د جهانی سولې په ساتنه کښې بې اثره نه ده.

لکه چه د اتحاد شوروی خلق د افغان ملت دوستۍ ته په قدر او احترام ګوری د افغانستان خلق هم دغې دوستۍ ته چه د فقید لینن له وخته تردې وخته ډیره ښه ساتل شویده په ډیر اهمیت او اعتنا ګوری او قدریې کوی.

په همدغه مناسبت په افغانستان کښې د افغان او شوروی دوستۍ ټولنه د خپلو خلقو دیرې ښې هیلې د اتحاد جماهیر شوروی خلقو ته څرګندوی او ارزو لری چه په اینده کښې به دا دوستی په کلتوری او عرفانی چارو کښې نور هم ډیر انکشاف و کړی او ددواړو خو او دپاره به ګټوره وی .

تل دې وی دوستان او دوستی.

خوشحاله دې وی دروغې او سولې پالونکی او خوښوونکی .

«سعید افغانی»

لیار

چیر ته روان یې؟ تادا سنجش کړی چه زه چیرته ځم؟ لور او لودن درته معلوم دی او که نه؟ داو ړوند دی مګر ډیر زړور. ګوره چه د وړوند و په زړور تیا تیر نه وځي. ته، هو، ته، همداتاته وایم ځکه ته پوره سنجش او دقت نه لری ته ډیر غولید لی یې، او اوس هم دخپلو غولید وڅخه عبرت نه اخلې. دغه لویه لیار ده اوسمه ستره، په دغه لیار کښې خوف او خطر نشته. په همدغه لیاره ځه چه بلې خواته لاړ نه نشې. هغه لیاره نه ده معلومه په هغه باندې که څه هم زیات مصرف اوشی بیا هم خطرات لاڅه کړی چه د مرګ تهلکه هم شته. ګوره چه بیا به ارمان کوې خو وخت به نه وی مساعد. راځه زما ومنه، زه تاته ښه وایم، زما زړه د رباندې درد کوی. زه خو په دغه لیاره ځم. که زما نه منې خو ښه دې. زور در باندې نه کوم او نه د زور طرفدار یم. ماته مه وایه چه راځه ته هم راسره په دې کښې لیار ې لاړ شه. ما پریږده چه زه بیا هم ستاد خیر د پاره په زړه کښې خپل د رد ونه وروزم. زه نه مایو سه کیږم چه ته ولې په سمه نه ځی. زه نه غواړم چه ستا د مخې اغزی شم، او یا دې خدای مه کړه چاته بدمعرفی کړم. نه خیر که هر څه یې بیا هم ورور او کلك ملګری یې. زه خپل ملګری دلاسه نه ور کوم. ماچه یو کرته چاته لاس ورکړ، بیا په لسانه لاس ترې نه اخلم. له ما سره یو ازې کوم ښه صفت چه شته هغه همدا چه وفادار یم. زه ملګر وته همیش په سختو ورځو کښې رسیدلې یم. ما اکثر ملګری په دې صفت ښه پیژنی. زما ځینې ملګری که څه هم چه لوی شوی زه یې هیر کړی یم، خو داد هغو خپل ضعف او کمزور تیا ده.

هغوی سره شاید همدا فکروی چه: «یار د کو څې تیر کړه مخ یې هیر کړه» زه اوس هم چا ته بې لاسه او بې پښو نه یم. زه اوس هم دا قوت او طاقت په ځان کښې وینم چه د نور ودپاره ښه په زړه پورې خدمت و کړم. زه خو که نور هیڅ نه لرم ځان خو لرم، او په ځان مې اعتماد او باور هم شته. زه د مرګ پر واهم نه لرم نو چه د مرګ پروا نه لرم چاته څه احتیاج لرم. زه هغو مره چه په ښه خوی او ښه سلوك، دلیل او منطق تابع کیږم هغو مره په دې بې پروایی او نا معقوله وضعه نشم تابع کیدی. که زه نه پوهیږم باید پوه شم. زه خو خبرې ته غوږ ښه نیسم. کوڼ نه یم متعنت او کج روهم نه یم. که زه په سمه لیار

نه یم روان ووایې چه دا او د ا نقص لری ، ووایې چه په دې کښې خطرات دادی . که په دې لیار کښې چا وروسته دپوره دقت او سنجش څخه د یو ې ذرې قدر نقص پیدا کړ بیا د ې ووایی . هر څه چه وایی و دې کړی . هر څه چه کو ی هو !هسې بې غور ه او سنجشه ا و دپوره دقت او معلوماتو نه په غیر گمان کوم چه قطعی فیصله غلطه وی . ښه دی یو څو ورځې نور به هم زه فکر و کړم اوتاسو ته به د فکر کو لو مو قع د ر کړ م. وبه گو رو چه خبر ه د چا رښتیا د ه ،زه په سمه لیار روان یم ا و که ته . مگر گوره چه دا دانتظار فرصت د لاسه ورنه کړې. نه چه چیرته د کوم گړنگ څخه خطا شې. دغه زماامسا وا خله دا امساهسې خوشې امسا نه ده .دادموسی امساده. دا امسادفرعون سره دمقابلې دپاره په کاریبزی.دا امسادخلکو سحرونه قوړتوی .له ماسره که سمه لیارشته دغه سې امسا اولاس هم شته هوازما لاس هم هسې خو شې لاس نه دی . زه دبل چاپه لاس نه یم او نه په ما کښې د بل چا لاس ځا ئیبز ی : او بس .

زه هغه څه انسان نه گڼم چه دخپل لاس څخه کار نه شی اخستی.زما په لاس کښې څه د خلکو گناهونه نشته او نه په د ې لا س غو اړ م چه دخلکو مظالم دځان پیټی کړم.

نو راځه، ما وگو ره .زمالاس اوامسا هم ووینه. راځه که غوا ړې په زړه کښې مې هم ننوځه . فکر اوخیا ل مې هم کشف کړ ه چه زه څه غواړم ، زما مطلب څه شی د ی. که بیا هم چیرته خوش دې نه شوم،خو ښه دې . داسې ډ یر خو به ملامت نه یې .زه خو چیرته پردی نه یم او نه کوم بل څه. نه ، زه ستا ورو ر،ستا خیر خواه ، ستا ملگری او بو ره علاقه مندیم هوازما دزړه آوازستادعشق سندرې غبزوی، مگر ته، څه ووایم چه ولې په سمه لیار نه ځې ؟زه بیا هم خپل خدمت کوم او ستاسعادت د پاره مجاهدې ته ادامه ورکو م. و گو رم چه اخرڅه کیبزی .نور څه نه غواړوم بوازی همدا چه زه سمه لیاره او دخلکو خیرغواړوم

ماخذ: دهندوستان دنیشنل هیرالډور ځپانه

مترجم : میرا کبر

د فبروری ۲۱ مه ۱۹۶۱

دولس دوستۍ درس

د پاتریس لوممبا وروستی لیـك

دالیزابتویل له زندان نه دمیرمن لوممبا

په نامه

((داستعمار دلو کرو ـ هیڅ رازوحشیانه کړاوونو او شکنجوونه شو کړای ـ چه ما استرحام ته اړ کړی .زه دا ښه ګڼم ـ چه دخپل ولس په سر ـ له قوی او ثابت ایمان سره ـ په هسکه غاړه ووژل شم ـ نه دا چه دولس پالنې سپېڅلی اصول تر پښو لاندې کړم ـ او د ټیټ سرژوند و منم))

دښاغلی لوممباوفات

لو ممبا

چه په حق باندې مین شی
ژوندانه کښې خوار و زار شی

بندی کیږی وژل کیږی
د هر چا د ستر ګو خار شی

☆ ☆ ☆

ژوند کښې یې نه کیږی پوښتنه
څنګه سخت زړه د انسان دی

پس له مرګه یې ها ها شی
ډیرافسوس اوډیر ارمان دی

(بختانی)

دافریقې د زړه سهار

دپاتریس لوممباشعر

ښاغلی لوممبا د کانګو دخلقو محبوب لیډراو دازادۍ د لارې لوی قهرمان دشعر اوادب په میدان کښې هم بې څه نه و، دی شاعر او لیکوال هم و: دی به نه یو ازې د کانګو په تاریخ کښې دتل دپاره په لوړنامه یاد وی بلکه دنړۍ تاریخ به یې هم ارو مرو ثبتوی، مستعمره او محکوم ولسونه خو به یې دآزادۍ دلارې شهید ګڼی. څنګه چه ده په ډېره کمه موده کښې، داستعمار په مقابل کښې د کانګو یانو مبارزې نړۍ والو ته وښو دې، داسې یې هم داستعمار درا غورځېدونکې ماڼۍ بنسټ دتوت دپاڼې په څېر وښوروه او داستعمار غیر بشری څېره یې د لمر په شان ښکاره کړه.

داچه وړو او لو یوټو لو استعماری قوتونو اوملګرویې په ګډه دده مرګ ته لام وتړه او دمحکومو ولسونو، نه رام کیدونکی مبارز قهرمان یې و وژه، دده د سترتوب یو ښکاره ثبوت دی.

لاندې دده یوه ټوټه شعرو لولیءکوم چه دمبارز پښتو نستان د غنچې په دریم لمبر مجله کښې ښاغلی ولی محمد طوفان ازاد شعر په شکل کښې پښتو کړې خپور کړی دی.

دغم زپلی افریقې مظلومو!

دغشو نښه، ترمودو داستبداد پاتې شوی
تاسو په لومو کښې بې وسه دصیاد پاتې شوی

استعمار چیانو طلسمې غوندې ګرجې جوړې کړې
په حقیقت کښې بې مکرونه، دسیسی جوړې کړې

چه ژوند اوروح مو په امان کښې وی
خو دسپین مخو ظالمانو بچو

په تور وخلقو یو قیامت را کوز کړ
ځکه چه دغه یې خپل حق ګاڼه

چه تاسې و ژړوی، مړه مو کاندی
ستاسو دپښو دزولنو شرنګ هیر و لی نه شم

دځنګلو نودتیا رو هیبتی مرګ مې یاددی
چه تل دګورو ونو څانګونه یې ستاسو پاو،

هڅه کوله دمارانو په شان
ستاسو دروح نه به راتاوو ومدام

ستاسو بېغلو کې په بدل به دپیسو خرڅیدې
او ستاسو پانګه به له دې ملکه بهرته لمله!

ستاسو دیخو اسو یلو دو د ونه
ستاسو دتړمو او ښکو سره رود رنه

مابه کتل چه به دشپې تور وتیارو کښې پټ شو!
دارتینو چیغې سورې اوفر یادو نه دغم

ورو ورو دهغې سېمې خوا ته لاړل
چېرته چه زوګ د ډالر ونو وی تل

هغلته ستاسو بچی
هغلته ستاسو ښځې

(پاتې په دریمه پشتی کښې)

تتبع او ترجمه د

اتیک خیل وردګ

زیګموند فروید

د۱۸۵٦ عیسوی کال دمې دمیاشتې یوه ټکنده غرمه ده دزایبورګ(۱) په یوه یهودی کورنۍ کښې یو عجیب شور ماشور جوړ دی — دا دزیګموند فروید داعصا بو د پیا وړ ی طبیب دروحیاتو دلوی عالم او د پسیکو انالیزم (تحلیلی روحیات) دموجد دزیږ بد وورځ ده.

مور او پلار یې کوښښ کاوه چه دی دیهودی اقلیت د ژوند مشکلاتو د مقابلې له پاره یو کامل انسان تربیه کړی. ماشوم که څه هم په خپله ناسته ولاړو کښې ډیر احتیاط کاوه — خوسره له هغه یې هم له چاسره سازش نه خوښیده.

په څوارلس کلنۍ کښې دژوند مشکلاتو مجبور کړچه وین) ته سفرو کړی. او دلته دی چه خپل ابتدایی تحصیلات پای ته رسوی. په ۱۸۷۳ع کال کښې د(وین) په پوهنتون کښې شامل شو. که څه هم دشیمی او بیولوژی سره یې ډیره مینه درلوده — خو بیاهم د طب پوهنځی کښې شامل شو — ځکه چه انسانان تر نور طبیعت نه جالب ورته ښکاره شول.

دپوهنتون په محیط کښې ډیر زر پوه شو چه له

(۱) [illegible] ایالت کښې واقع دی

ده سره دا طریشیانو رویه څه بل شان ده - او پوهیده چه دی دیهودی اقلیت د اکثریت په مقابل کښې څه منزلت نه لری دی په خپله بیوګرافی کښې لیکی: «د پوهنتون د منسوبینو دې رویې زما په آینده کښې د یر تاثیر د رلود زه خپل سر نوشت ته متوجه شوم او وپوهیدم چه زه له هغه اقلیت څخه یم چه اکثریت ته لار نه لری - له دې کبله په ما کښې د قضاوت استقلال پیدا شو.»

فروید د تحصیل په موده کښې خپل فارغ وختونه د ارنست برو که (۱) د فزیولوژی په لابراتوار کښې تیرول او د طب د لوی دوکتور ژوزف برویر (۲) سره آشنا شو.

فروید په ۱۸۸۱ع کښې د طب پوهنځی پای ته ورساوه او د طب په ټولو څانګو کښې یې د عقلی عصبی (Nevo-Psychiatrie) څانګه غوره کړه.

دوه کاله وروسته د (وین) په پوهنتون کښې مقرر شو او هلته یې خپلو تتبعاتو ته ادامه ور کړه او د اعصابو د دستګاه په برخه کښې یې ډیرې رسالی نشر کړې چه د ده د ډیر شهرت سبب شوې. فروید د برویر په ملګرتیا په ۱۸۸۵ کښې یو کتاب «د هیئری په شاوخوا کښې تتبعات» په نامه خپور کړ.

په همدې کال کښې فروید فرانسې ته سفر وکړ او هلته یې د (شارکو) فرانسوی عالم څخه هیپنوتیزم زده کړ.

په ۱۸۸۶ع کال کښې بیرته (وین) ته راغی او د (وین) په پوهنتون کښې د استاذ په حیث مقرر شو. کوم وخت چه (برویر) او فروید په خپلو تتبعاتو لګیاوو د نورو عالمانو او د دوی په منځ کښې د رایو د تحول له امله اختلاف پیدا شو چه همدا کار د دوی او د نورو پوهانو د جدایی سبب شو او ورو - ورو یې په مقابل کښې د اختلاف غبزونه پورته شول. (برویر) چه د (وین) د معروفو خانوادو د اعتماد وړ سړی و ناچاره یې خپله نوې لار پرې ښوده او فروید یې یوازې پاتې کړ. خو فروید د ټولو یهودی پوهانو غوندی خپله لار بدله نه کړه ګستاخانه مخ کښې لاړ او د هیپنوتیزم زړه طریقه یې ترکه او په ځای یې د «تصوراتو له ارتباط» نه کار واخیست او یوه نوی لار (پسیکوانالیزم) Psychoanalism یې روی کار کړه.

د پسیکوانالیزم اساس دادی چه: «د هر چا د خوښې هیجانات د هغه په تحت الشعور کښې پاتې کیږی او بیا په مساعد وشرایطو کښې د زحمت او تکلیف ایجاد کوی باید د هغوی د راپه زړه کولو او د باندی شړلو په واسطه خپل زړه سپک شی». فروید تقریبا د ټولو متفکرینو

(1) Ernet Brvke
(2, Iosef Dreuer

په خلاف ـ د انسان تحت الشعور (جنسی) بولی او دده په نظر (جنسیت) دټولو غریزو او تمایلاتو اهم شعوردی. همدې عقیدې د بشرد څوزرو کلنې عقیدې سره اختلاف درلود او هغه وچه دې عقیدې ډیر مخالفین پیدا کړل او به عین حال کښې دې عقیدې ډیر خپلو عملی پایو باندې داستناد له امله ډیر طرفداران هم پیدا کړل.

په ۱۹۰۸ع کال کښې د پسیکوانالیزم لومړی ټولنه په ساز بورک کښې تشکیل شوه.

په ۱۹۰۹ع کال کښې د (کلارک) د شلم تلین د مراسمو د ګډون له پاره فرویدته هم دعوت ور کړشوی واو هلته یې موقع و مونده چه د پسیکوانالیزم په باره کښې ډیر کنفرانسونه ورکړی او دې کار په اتازونی کښې هم د ده د عقاید وطرفداران پیدا کړل. کوم وخت چه فرویدله اتازونی نه راوګرزیده پسیکوانالیزم په اروپا ـ هند ـ کاناډا او استرالیا ته هم لاره میندلی وه مګر یوازې په فرانسه کښې یې ډیر مخالفین موجود وو. په ۱۹۱۰ع کښې یوه بله ټولنه په نورنبرګ کښې د فرویدپه دعوت جوړه شوه. په ۱۹۱۱ع کښې یوه بله ټولنه په میونیخ کښې د دوکتور زایف او په ۱۹۱۳ع کښې په بود اپست کښې د فرنچې په ریاست جوړې شوې او په دې ترتیب فرویدیزم بو بین المللی شکل ځانته ونیو.

له دې و روسته پسیکوانالیزم درو- ورو د روحیاتو له سرحده ووت او د ادبیاتو- تعلیم او تربیې - بدیعیاتو او اجتماعی علومو ساحې ته ورننوت - لکه چه د تربیې په برخه کښې د (پیداانالیزم) نوې شعبه منځ ته راغله.

په ۱۹۲۰ع کال کښې یې د (اصل لذت نه ماوراء) کتاب او په ۱۹۲۱ع کال کښې یې د «ټولنې روحیات او (زما) تحلیل» کتابونه نشر کړل.

هرڅو که فرویدبې له علم نه په بل شی اعتماد نه د رلود ورو-ورود علم له ساحې نه ووت او د فلسفې په شاوخوا کښې یې Metspsychoiogie منځ ته راوسته.

په ۱۹۲۳ع کښې یې د «زه» (۱) او «ده» (۲) کتاب ولیکه او په ۱۹۲۷ع کښې یې «دیوه تصور اینده» کتاب چه د خدای مفهوم تحلیل کوی نشر کړ. په ۱۹۳۷ع کښې یې د موسی او خدای (ج) پرستی کتاب لیکلی دی.

د فرویدا کثر تالیفات خورا بلیغ دی او په یوه موضوع له هرې خوا رڼا اچوی. د خوب په برخه کښې یې بر سیره د رویا تعبیر په کتاب ځو نورې رسالې لیکلی دی

(1) Moi

(2)Le

په ۱۹۳۶ ع کال کښې کوم وخت چه نازیانو په اطریش حمله وکړه- فرویدډیر ناروغ و خلکو ډیره موده له دې حملې څخه خبر نه کړ. خو اخر المانیان په کورورننوتل -ټول مالونه یې خلکو لوټ او آثار یې ور وسول. فروید تصمیم ونیو چه فلسطین ته ولاړشی. خو هغه سړی ته فلسطین کښې ژوند ډیر سخت و کوم چه یو عمر یې له روایاتو او سننو سره جګړې کړې وی- نو فیصله یې وکړه چه پولینډ ته ولاړشی. خو نازیانو داخبره ورسره ونه منله او بالاخره له ډیر زیار نه وروسته موفق شو چه ځان انګلستان ته وباسی او په ۱۹۳۸ ع کښې یې دانګلیس تابعیت قبول کړ.

د ۱۹۳۹ ع کال د سپتامبر په (۲۳) ورځ د (۸۳) کالو په عمر له یوې جراحی نه وروسته مړ شو. څرنګه چه وصیت یې کړی و جسد یې وروسو.

له فرویدنه درې زامن او درې لونې پاتې دی.

پای

پلوشه

نه خوشحاله دې وفا کړم — نه خفه دې کړم ستم
ژوند یو تال دې چه غبز یبزی — کله زیر او کله بم
دا یو دوه ګړۍ ژوندون دی — په خندا خندا یې تیر کړه
داجهان خدائی جنجال دی
کله وران او کله سم

مولانا خادم

د ماستر کریم ادبی شخصیت

د پښتور د اتما نزو ماستر عبدالکریم چه ملګرو او همزولو به «ماستر کریم» باله په تیرو ورځو کښې له دې دنیا څخه ستر ګې پټې کړې. د ده مرګ د پښتو نخوا په لرواو برو سیمو کښې یوه خواشینې او ژړوونکې حادثه وګڼل شوه.

هرڅوك پو هیږی چه مرګ یوه طبیعی حادثه - او په هر ژوندی هرو مرو راتلونکې ده. دا ترخه دهر چاله ستونی تیریدونکی او په دې تو رتم کښې هر څوك ورننوتونکی دی. او چه خوږ یږی او رنا کیږی نو په خپل عمل او بس!

ماستر د عمر په لحاظ د مرګ نه و - خو مشکلا تو و وا ژه. مو نږ سره نور هیڅ نشته یوازې تاوده آهونه دده سره ملګری کوو.

ماستر خو به مړ کیده - ځکه چه بې له دې بله چاره نشته، خو دده په تللو د پښتو او پښتونستانیانو په ډله کښې یوه داسې درز پیدا شو چه په مشکله سره به ډ کیږی اود ارمان خبره داده چه ارمانی ګور ته ولاړ.

ماستر کریم له یو ې غریبې کورنۍ سررا او چت کړ - او د باچا خان په سیوری کښې لوی شو - دو هره لوی شو چه خپله کورنۍ - د ملګرو ډله او پښتنه دنیا یې درنه کړه. د خدایی خدمتګار انو په ملی ښوونځیو کښې عالم او بیا هملته استاذ شو. د قوم په تربیه پوهولو - راپورته کولو کښې یې تکالیف وګالل. بندونه یې تیر کړل - ستغې سپورې یې و ز غملې - خونه یې شکایت و کړ، اونه یې چا ته سر ټیټ کړ.

د خدای رحمت شه د ده په زیږنده - دده په ځوانۍ - د ده مړینه او د ده په عزم او پښتنولۍ.

ماستر کریم په درې ډیرجګ او ډیر ټیټ سړی نه و. منځنۍ و نه یې د ر او ده. نه نروچکی و - اونه ډ یر چاغ - غنمې رنګ ښکلې قواره - اوجذابه بشره یې لرله. خبرې یې لږې - په ورو - ورو او خو ږې وې - په زوره یې نه خندل. خو په شونډو به یې تل یوه نرۍ مسکالو بیده.

ارام - متین او مؤقر سړی و. څوك یې په ناسته او جرګه نه مړ یدل. دده له څهرې څخه راستی - صمیمیت - اومینه بریښیده.

دسرې یاخړې خامتا کالی به یې اغوستل.

د کالو په سکښتاو کښې یې پښتنی اسلوب نه پریښود. یوخړ څادر به یې به ځان راتاوا وه.

څپلۍ به یې په پښو کولې . خو د مشر او خپلې ډلې په پل به لوڅ سر ګرځیده . ماسټر کریم د پښتو زور ور لیکوال و . ده په نثر کښې یوه ځانته لاره ایستلې وه . هغه وخت چه «پښتون» مجله چاپیده - نو په روانو سیاسیاتو باندې به تبصرې پکښې دده په قلم وې .

دده نثر روان - خوږ - او سلیس و - پښتو به یې په خاص پښتنی اسلوب لیکله . د نورو ژبو د تاثیر لاندې به نه راته .

دی په انګریزیء او نورو ژبو ښه پوهیده - ولی پښتو یې نه ګډوله . لغات پښتو ترکیبونه پښتو - جمله تړل پښتو - او تعبیرونه پښتو چه د پښتو په محاورو - کنایو - امثالو او استعارو به ډک وو - دا دده د اسلوب خصوصیات وو .

دی زیات یو عملی سړی و - خو د عمل نه پس یې د قلم په ډګر کښې هم ځان ستړی کړی و . ولې لکه په عمل یې چه قیود لګیدلی وو د قلم نتیجه یې هم لکه چه د قام په نصیب نه شوه . د ده په مرګ د پښتنو لیکوالو له ډلې د پښتو د میدان یو مزی پهلوان کم شو . د ۱۳۲۷ ق ه په ژمی کښې چه بینوا او زه د پیښور موزیم د مشاعرې د ګډون د پاره پیښور ته تللی وو - نو هلته د ښاغلی عبدالولی خان په مرسته په اتمانزو کښې د باچاخان په لیدلو بختور شوو . د غلته د پښتو ډیر لیکوال او شاعران را بلل شوی وو - او له دې محفل څخه مو ډیر خوندواخیست . څو ورځې پس مو ماسټر کریم په پیښور کښې ولید . بینوا ورته وویل : «ماسټره ! ته چیرته وې چه دا څو ورځې مو هیڅ ونه لیدې» ماسټر ورته په مسکا وویل : «زه خو د حکومت نو کریم - او د حاضری په قید کښې یم» . ما ورته په ټوکه وویل : «نو خدای دې موقوف کړه چه مونږ دې ډیر ووینو !»

بله ورځ چه ماسټر راغی له ورایه یې خندل . مونږ ویل : «وایه څه چل دی ؟» ده ویل : «زه خو یې رښتیا موقوف کړم» مونږ ویل : «ولې اخر په څه» ده په خندا کښې مونږ دومره یوه کړو چه : «مونږ په خپل وطن کښې د «ولې» حق نه لرو» .

ماسټر سره مونږ په څو مجلسونو کښې مخ شوی وو . خو ماسټر بې له سترګو او تبسم نه په بله ژبه ډیرې خبرې له مصلحته د باندې ګڼلې !

ماسټر کریم مړ شو - خو کوم وخت چه د پښتو او پښتون د هیلو غوټۍ ګلونه وسپړی نو د پښتونخوا ځوانان او پیغلې به د پښتو د لارې د نورو شهیدانو په لړ کښې هر کال دده په مزار هم د ګلونو ګیډۍ ږدی - او د پښتونخوا د مالیار په حیث به ورته دعا کوی د کابل پښتو اکاډیمی دغه مړینه لویه ادبی ضایعه ګڼې - او دده کورنۍ او ملګرو ته نیک اجر غواړی .

لاندې د مرحوم د ادبی اثارو څخه یوه نمونه رانقلوو :

ماستر عبدالکریم

د نثر نمونه

پاکه پاڼه

پاڼې په څو څو قسه دی، دونې پاڼې - د گل پاڼې، د قران پاڼې، د ژوند د کتاب پاڼې او د تماکو پاڼې، سره د دې چه هره پاڼه پخپل خپل ځای ډیره درنه ده خو په ټولو کښې د قران پاڼه ډیره پاکه او مبارکه ده، مگر زیات کارنن سبا د تماکو له پاڼې نه اخستې شي.....

یوازې کور، کوڅه، حجره، دیره؛ بوله، پټې نه دی چه گڼې د تماکو د پاڼې پیریان پرې ناست دی.

که د سگرټ په جامه کښې سکول، کالج، دکان، دفتر او ښکلو ماڼو ته ورسیده نو هغه ده د نسوارو په ډبلی کښې د جمات محراب کښې ناسته ده او آن د ملا صاحب نه سر سایه اخلی ولې ډیره موده کېږی چه دچین ماچین ښاپیرو زمونږ دې وطن ته یوه نوې پاڼه راوړې ده او دا وطن د دې پاڼې دومره خوښ شو چه خپل ټول قام قبیله یې ورپسې په کډه راوستلې او نومې پاڼه یې شاته کړه دا پاڼه درنگه توره او د خوی نه ترخه ده خو بیا هم دخلقو تن وجود دی او هر سړی ورته دومره متازه دی چه بې ددې داجازې نه دکوره بهر ته نشې وتې بس د هر چا دکور میرمن ده، دې ته دچایو پاڼه ویلې شی، پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کښې دقرآن په پاڼه ستر گې غړه ولې، ولې اوس خو چه یې دچایو پاڼه ښکل کړی نه وی دقران پاڼې ته کتلی قدرې نشی.

که چای دخوی نه ترخه ده نو خوازه یې هم شته که ډېټې ته دې وړاندې کړه نو مقدمه به وگټې - که په وکیل دې وو هله نور ښتیا به درله دروغ کړی او دروغ به درله رښتیا کړی. چه د تاڼې تحصیل دواکدار و دچایو غم کوی نو بیا سپین باز گرزه. خیر دی که بې لیسنه ټوپک ساتی او که غلا غلطې او جواری کوې - که دعوه گټې قاضی صاحب باندې یې نوش کړه - که مړی بخښې نو ملاصاحب ته یې هبه کړه.

ولی محمد طوفان

له میاشتنۍ «غنچه» مجلې نه

د ماسټر عبدالکریم د مړینې غم

په سر وستر گو آزادی ور پسې ژاړی
د وطن د غلامۍ یولوی غلیم لاړ

دا «کرم» به د اسمان په مونږ تر څووې؟؟
«خان لالا» قاضی صاحب لاړل کریم لاړ

چه خبرې یې آسمان سره کولې
له تا طوره تاترې هغه کلیم لاړ

چه هر ظلم ورته سم لکه الف وه
د دنیا نه په ملا خم لکه د جیم لاړ

چه گلو نه یې سپړل په نما ښامې هم
د پښتو درون سحر هغه نسیم لاړ

ژوندون پروت یې دی په څلی وینې ژاړی
لیو نۍ پښتو د ډیرې مینې ژاړی

چه یې تو ره او قلم دواړه تیره وه
هغه لاړ چه مجاهد و هم ادیب و

نه زده څه وه؟ څه خووه، زه به څه وایم
خدای خبر هغه شاهین که عندلیب و؟

ترمې ترمې زړه رخصت شه له وطنه
چه ددې وطن د خوږ زړگی طبیب و

ور شه و پو ښته اقلیم د فیر نگیا نو
هر یو کش یې د قلم څومره مهیب و

چه په مال یې د غلیم لاړې تو کلې
دویاړلې پښتو نخواه داسې غریب و

د قلم د زړه له حاله خدای خبر دی
څه بلا ده له دې کاله خدای خبر دی

ځکه ژاړم چه یو لاس له تنه پرې شو
د «بابا» د ستر گو تورو تیرو یاوړ

سره لمبه وه د غیرت خاورې ایرې شوه
د ژوندون تندرد مړینې اوبو یاوړ

هغه یو سلامت غر د شجاعت وه
د وختو نو د سیلیو چپو یاوړ

اې نصیبه! وزر ماتیه خدای دې وا خله
ښکته مځکې ته ارمان د ختو یاوړ

د ژوندو د مټو توان به پاتې نه وی
چه «ژوندی» کریم له مونږ څخه مړو یاوړ

د «پښتون» د «نښنۍ دنیا» تفسیر و
ویښ قلم یې د سیاد خوب تعبیر و

دغه حکم د خالق و گڼې مړینې
خدایږو ته به هم په زړه کښې یې پښیمانه

د ژوندون د پسرلی ډیوه یې گل شوه
چه اغزی وه ستا په ستر گو کښې خزانه

جوړ خپه وه، په خندا له دنیا تیر شو
لکه څوک چه پښې وباسی له زندانه

جنازه یې هم او چته په اوږ و شوه
شوروان په هسکو ستر گو له جهانه

دا رښتیا دی سل دی ومره بودې مه مره
د کریم په مرگ زرهامړه شوه طوفانه


ادبی

وکیل منصور

دو مره څوك نشته چه نغمه د ژوندانه وچیړی
ستر ګې حیرانې شونډې ګونګې دی او خولې چوپ دی

ستوری ویده دی شومه دم ده قافلې چوپ دی
څوك لا په لاره دی ویده او څوك دلې چوپ دی
دو مره څوك نشته چه نغمه د ژوندانه وچیړی
ستر ګې حیرانې شونډې ګونګې دی او خولې چوپ دی

داسې مقام ته دې نادانې جذبې راو ستمه
چه نه کاروان شته نه یې ګرد شته مرحلې چوپ دی
محفل خور شوی، شراب توی دی، پیمانه ماته ده
نه صراحی شته، نه مینا شته، قهقهې چوپ دی

ساقی د خدای د پاره ستر ګې دې راتاو کړه لبزې
زلفو له څنډ ور کړه شرابو کښې نشې چوپ دی
منصوره! دې نه به لا نوره خاموشی څه وی
چه ښکلی ښکلی شاه ځلمی او پښتنې چوپ دی

سید احسان الله هیر

شاعره!

سوړ ژوند بدل کړه وایه نوي ترانې راته سړه سینه کښې نورې بلې کړه لمبې راته
دغه بې سره مات رباب راته نو رمه غبز وه آهنگ بدل کړه وایه بل رنگه نغمې راته
څو په حواسو کښې پیدا شی یو څه شور زما
بدل کړم اړخ د ژوند انه ورک شی پیغور زما

ما ته د بست له تمدنه حکایت وکړه له نار وادیر غلچیانو شکایت وکړه
راته تازه که دزابل او د بامیان خاطرې ما ته له هغه تمدنه بیا صفت وکړه
په ساړه ژوند کښې مې یوه گرمه هنگامه راوله
دخیال تمثیل کښې د تیر ژوند یوه ډرامه راوله

نه وایم دا چه زه به ویاړم همیشه په تیرو یا باختري اولاددې ویاړې په زړو او هېرو
نه نوی ژوند دپاره تانه نوی رنگ غواړم د مباهاتو بحث کوه راته دډیرو- ډیرو
څو شی عبرت راته د تیرو ژوند بدل کړم ژوندون
دحرکت درس راته را کړه څو به وی داسکون

که د وطن ننگیالې مړ شو افتخار پرې لرو زاړه درسونه به تل لولو او تل کار پرې لرو
خو پرونۍ جنډې ساتلی شو رڼا کښې مونږه نن یو وطن ته مونږ مسئول ځکه نن وار پرې لرو
دشهیدانو دعا گانو سره کار دی لازم
هغوی به ستایو خو نن مونږه ته څه زیار دی لازم

دا دسکوت طلسم مات کړه په نغمو شاعره! له وطن لرې بیکاری کړه په زیار وشاعره!
دغه ویده ځلمیان راویښ کړه ورته وایه گوره چه کار په کار دی ته هم بوخت شه په کار وشاعره!
څو له وطن نه جهالت خیانت تیارې لرې شی
داشپه سحر شی له ځلمو دا خاطرې لرې شی

غلام محي الدين «زرمل وال»

يتيم

خوار يتيم په سر سر تور هم بې پلاره هم بې مور
په هفته کښې وږی تږی يا دوه څاښته يا څلور
خوار يتيم سر مې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

په فاقه شپې تيرومه نن سبا له يخنۍ مرمه
پاکول د يتيم او ښکې يا په پلارشی يا په مور
خوار يتيم سرمې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

هره شپه زه په تور تم کښې هم سړو هم په ډير نم کښې
له خپل ژونده بيان کړمه تور لحد په شان مې کور
خوار يتيم سر مې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

کرۍ شپه زه کړيدمه له سړو ډير ريږديدمه
نه مې خوب ونه مې توان نه مې ودېګدان کښې اور
خوار يتيم سرمې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

نه بړستن او نه نيمڅی شته نه کوسی او نه پوزی شته
اجل خوشی سړو يو وړم شپه دکور مې شوه په ګور
خوار يتيم سرمې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

لوڅ لغړ يمه په تن وس مې نشته دکفن
زړه ځوله مې په غاړه هيڅوك نه راکوی پور
خوار يتيم سر مې سرتور
يمه سوی تن مې سکور

زه مزدور تل د بډا ټول غنیان هوسا پرما
خواری کښې یتیم بې وسه بډا زرلری هم زور
خوار یتیم سرمې سرتور
یمه سوی تن مې سکور
قهر په ما باندې اسمان تل کینه کړی نه احسان
هیڅ زما په فکر نه دی هم لا جبر کاندی نور
خوار یتیم سرمې سرتور
یمه سوی تن مې سکور
بډا تل پلاو میوې خوری کوچ شیدې هم پراټې خوری
زما په برخه د زړه وینی تل وی زما لوښی نسکور
خوار یتیم سرمې سرتور
یمه سوی تن مې سکور
خان بډا گورم چړچې کړی بڼ باغونو کښې میلې کړی
ښې مو ټرې بې زړې کړې یتیم نه شو په خره سپور
خوار یتیم سر مې سرتور
یمه سوی تن مې سکور
یو بډا و بل بډا ته مرسته کاندی نه گداته
تل خپل ځان هوسایی غواړی زما پر حال دی کر او کور
خوار یتیم سر مې سرتور
یمه سوی تن مې سکور
زر مل وال د یتیم و روره زمانې بد لون ته گوره
تو رې شپې پسې بیاور ځوی نه وی تل ویر په هر کور
خوار یتیم سر مې سرتور
یمه سوی تن مې سکور

قلندر مومند

آشنا یادیږی

چه په دنیا کښې بې وفا یادیږی
نصیبه ! هغه مې اشنا یادیږی

ماویل چه هیریږې کړم هیر به مې شی
خو ولې او س راته بیا بیا یادیږی

د گلا بی شفق لیدو سره مې
سمه دستا په مخ حیا یادیږی

بس چه زمالاس کښې ساغر و وینی
نو واعظانو ته عقبا یادیږی

دا اتشین فکر په اورو سوزه
راته تیارو کښې هم رڼا یادیږی

بلبل قفس کښې هم چمن هیر نه کړ
ورته له گل سره سبا یادیږی

چه د امید غنچې تالاوالا شی
دغه د صبر انتها یادیږی

رضوانه ! مه کوه جنت ته نه ځم
ما ته د خپل وطن اشنا یادیږی

جانانه ! وو ایه صفا وو ایه
چه «قلندر» درته رښتیا یادیږی

محمدحسین ریدی

کندهار دبامیز و کوڅه

بیده ځلمی ته!

آ ځلمیه! وطن و یاړی په همت ستا ټبر هیله لری جانه دخدمت ستا
د هیو ادسترګې کبزې دی خدمتګار ته ترقی فوقیت پلو ری په زحمت ستا
چه زمریان دې شجاعت ته په حیرت وو چېرته ولاړه هغه دغومره قوت ستا
غافل مه شه په زیار خپل ځان بیدار کړه خرابی د ټول ولس ده په غفلت ستا
هو! دسرې غرمې خواری به دې عبث شی که په کار کښې واخښلی نیت بدستا
له طلب سره «قید» د جهد شته دی بې کوښښه به حاصل نه شی سبقت ستا
که مطلق طلب مو وصل وای مطلب ته ولې پروت به و په خاوره کښې قوت ستا
آریدیه! که په خپله بیده نه یې
ښایې ویښ به شی نور خلق په نصرت ستا

ممنون

اې زماد اروزګانو

ډیوې!

ته زمادزړه په تل کښې ځای لرې اوهلته بلیبزه!

ستادیاد شمعه په حافظې کښې دتل دپاره روښانه ده. زه دځوانۍ په تور ه شپه کښې د نیشو او کیفونو په میومست اودیوه عالم هیلوسره لرو برستړی ستومان ګرځیدم، چه ناڅاپه دامیدونو قافله مې ستادښکلا اودمینې پړاو کښې دمه شوه.

هلته ستاد مینې خوږه اسمانی ډیوه بله وه. شرشر ونغمې غبزولې. ګلان او نورې ونې نڅېدلې. وږمو عطرونه ښندل. داسمان ستورو زه وږ څار کاوه.

ته ډیوه وې. خوهغسې ډیوه نه چه خپل پتنګ وسوز وی. بلکه زمادخیال دنیا په تاروښانه وه اې نورانی پرښتې. ته وې او ته چه په هغې شپې کښې دې زه له مینې او ښکلا سره اشنا کړم. تاماته عقیده وبښله. تاد ګمراهۍ نه وساتلم. هو! دزړه خونه مې ستاده او ستادمینې ډیوه په کښې بلیبزې. هیله ده چه د اډیوه مړه نکړې او زمامعصوم زړه داندیښنو تیاروته ونه سپارې. اې زما دارزګانو ډیوې!

عبدالقدوس «تندر»

رڼې اوښکې

د ژمي يو سوړ ما زيګر ودلمر سترګه په تور و وريځو کښې پټه وه . څه شيبه ور وسته واورو هم پـه وريد لو پيل وکړ او په لږ وخت کښې يې په ځمکه سپين فرش وغوړاوه . هرچا د خپل کور او کار خواته چټک چټک ګامونه اخستل واوره هم ورو ورو زيا تيده ما خپله خولۍ په جيب کښې ايښې اود کاله خواته روان وم . خو په لاره کښې مې د يوه ما شوم عجيب او غريب او د ترحم وړ حالت توجه ځانته راوګرځوله . هغه دلس دولس کالو پـه منګ ښکلی هلـك و د قره قلۍ يوه توره خيرنه او ډيره زياته زړه خولۍ يې په سر وه- کميس اوپرتوګ يـې هـم شليدلـی او کـر غيړن وو - يوه شين رنګې لويه او بې تناسبه زړه کرتۍ يـې اغوستې وه . دومره درانده او لوی بوټان يې په پښو وو چه سم يې وړلای هم نه شول خو په ډيره خوارۍ به يې ځان پسې راښکل . ټول ځان يې له سړو نه رپيده اورنـې او ښکې يـې دسپينو واورو سره يوځای په مخ رابهيدې . دسګرټو دوه واړه دبلی يې په لاس کښې نيولی وواوپه ژړغونی اواز کښې يې ناري وهلې: ((سګرټ په يوغران .. سګرټ په يوغران ....)) زه ددې مظلوم او مصيبت ځپلی ماشوم ليد ودفکر اوخيال له اوږده خوبه راويښ کړم . ټول بدن مې لـه ډيره هيبته ولړزيد لږ ورنژدې شوم او ورته مې غبز کړ :

— هلکه لږ دې خوار اشه !

هغه په منډه منډه راغی او په لړزيد ونکی او از يې راته وويل :

— کا کا جانه ! سګرټ اخلي !

دا نه په يوغران .

ماد ډاډ اوتسل په لهجه ورته وويل :

— ښه روکيه : ډير ښه . . .

نن دې څومره سګرټ خرڅ کړې دي ؟...اوپه ورځ کښې څومره ګټه کوې .....؟؟ هغه زماله دې پوښتنی لږ وتريده او په سترګو کښې يې د ډاراوتر ديد علامې ښکاره شوې ما بيا خپله خبر ورغبرګه کړه :

— ګوره روکيه ! ته مه ډار يږه په ما هم غريبی تيره شوې ده او د غريب له زړه پوره خبريم . ته ما ته خپل حال ووايه . کيد ای شی چه زه له تا سره مرسته وکړم . د هغه په ژيړ ز بېښلی مخ باندې د حيا سرخی خوره شوه . په نيولی اواز کښې يې راته وويل :

— نن مې د سهار را هیسې شپږ د انې سګرټ خرڅ کړی دی او دغه د لسو د انو د بلی په درې روپو اخلم که لس دانې پوره خرڅې کړای شم نود وه روپۍ راته په کښې پاتې کیږی. ما بیا ورته وویل:

— ښه ورو ره! نوته مورو پلارا وڅوك خپل خپلوان هم لرې که نه ؟؟؟

هو! یوه مور لرم!.....

— پلار دې مړ شوی دی؟

— زه خبر نه یم خو مور مې وا یې پلار دې سو د اګر دی.

ددې خبرو په اوریدو سره په ما کښې یو عجیب انقلاب را پیدا شو. ددغه مظلوم ماشوم د اسرارو د معلومولو د پاره مې تلوسه زیاته شوه.

خو څرنګه چه وخت زیات تیر شوی و او ساړه هم زیات وو نو ما ونکړای شو چه له هغه نه نورې پوښتنې هم وکړم- دلسو افغانیو یو نوټ مې له جیبه وویست او ورته ومې وویل: — رو کیه! ته اوس د اواخله او برابر کورته لاړ شه. ساړه زیات دی ناجوړه به شی.

هغه په ډیره خوشالۍ زما له لاسه پیسې واخیستې په وچو شونډو یې نرۍ موسکا خپره شوه او په منډه منډه لاړه.

په ما ډیره ناوخته شوې وه. له بلې خوا او ره هم غټه غټه او ډیره اوریده جا مې مې را ته سر تر پایه لندې کړی وې. ژرژ رد کور خوا ته روان شوم. خو فکرا و خیال مې له هغه بیوزلی او مصیبت ځپلی ماشوم سره و.

وروسته تر هغه به مې هره ورځ د هغه پیدا کولو د پاره په بازا کښې اخوا دیخوا نظر ځغلاوه دوه درې ورځې مې ونه لید خو بله ورځ سهار څه وخت چه غوښتل مې وظیفې ته ولاړ شم په هماغه ماشوم مې له لیری نه سترګې و لګیدې ده دها بلې ورځې په شان د سګرټو د بلی په لاس کښې و اخوا دیخوا ګرځیده. په ډیره چټکۍ مې ځان ورورساوه. له مټ نه مې ونیو.

هغه چه زه ولیدم له ډیرې خوشالۍ نه یې دواړه سترګې وځلېدې او په ډیره مینه یې سلام واچاوه ما ورته و ویل:

دستانوم څه دی او چیرته او سیبزې هغه د بازار د کیڼې خوا کوڅې ته اشاره وکړه او ویې ویل:

په دې ښکته کوڅه کښې او سیبزم او نوم مې توریالی دی.

ښه توریالی جانه! په کاله کښې درسره نور څوك دی هغه وویل:

یوائې زه او یو ناروغه مور مې په هغه کور کښې او سیبزو او نور هیڅوك را سره نشته.

ما له ځان سره فکرو کړ چه که اوس له دې ماشوم نه پوښتنی کوم نو ګومان نه کیږی چه دده په حال احوال پوره ورسیږم. نو مې له ځان سره فیصله کړه چه ښه به داوی یو ځل یې مورته

ورشم او له هغې سره وغبز یبز م . هماغه وه چه ورته مې وویل :

توریالیه! اجازه راکوې چه یو ځل ستا دمور پوښتنې ته درسره لاړشم- که څه دارو مارو یې په کاروی چه وایې خلو.

هغه لبز موسکی شانته شو او د امید نه ډک نظر سره یې راته و کتل او و یې ویل :

تاسو ته به تکلیف وی او . . . .

ما یې ژر خبره ورپریکړه . له لاسه مې ونیو او ورته مې وویل: نه نه ما ته څه تکلیف نشته . ځه مخکښې شه چه یو ځل ورشو .

هغه مخکښې اوزه ورپسې له ډیرو تیا رو او کبزو کوڅونه تیرشوو . په اخر کښې هغه یوې شین رنګې دروازې ته ودریدا وراته یې وویل:

دا د خان صاحب کور دی او مونږ دلته دهغه په زیرخانه کښې اوسیږو . . . . تاسو راځیء مورمې دلته ده .

هغه مخکښې شو او د کوټې در وازه یې راته خلاصه کړه . کله چه زه کوټې ته ور ننوتم نو کتل مې چه لو ګی هغه وړه شان کوټه داسې توره کړی وه چه په رڼا ور ځ هم په کښې تپه تیاره وه . ما ته څه شیبه هیڅ نه ښکاریدل . خو چه لبزو دریدم د کوټې په یوه ګوټ کښې مې یوتك تور چای جوش دوه پیالې او د خښتو یو نغری ولید . د تیلو یوه وړو کی ډیوه هم دهغو څنګ کښې وه . د کوټې برسرته په یوه زاړه کټ کښې په شلید لې اولوغړ نه پرستن کښې یوه رنځوره ښځه پرته وه ځګیروی یې کاوه . هغې چه زه ولیدم ټکری یې په سرسم کړاو پخپل ځاې کښې را کښیناسته دهغې په زیړ زبیښلی او رنځ وهلی مخ کښې دویرې او تردید علامې ښکاریدې په دې وخت کښې هغه ماشوم ورته وویل :

ادې! داهماغه سړی دی چه ما ته یې پیسې را کړې وی . دی اوس ستا پوښتنې ته راغلی دی

هغې وویل :

خدای دې ورسره ښه و کړی خو دلته . . . .

هغې لاخبر نه وه خلاصه کړې ماورته وویل:

خو رې ! زه د دې له پاره راغلی یم چه ستا د غم لړلی ژوندنه څه ناڅه خبرشم او که می وسه وشی تا دبدبختۍ له دې تورې کندې نه را وباسم ولې چه ستا دد غه ما شوم زوی مظلومې څېرې مجبور کړی او تردې ځا یه راوستې یم .

هغه زما خبرو لبز حیرانه غوندې کړه . په لړزیدونکی اواز کښې یې وو ل .

ورو ره ! ته نو اوس له ما څه پو ښتنې کو ې .

زه د رنه دا پو ښتنې کوم چه ته څو ك خپل خپلو ان هم لر ې که نه او تر دې ځا یه څنګه راغلې یې او ګذاره دې په څه شی کوی .

زماد خبروله اوریدو سره دهغې په غټو او ښایسته مګر د زمانې د بیر حمه سیلۍ خپلو ستر ګو کښې رڼې اوښکې ډنډ شوې په ژړغونی آواز کښې بی وویل :

هیله کوم چه ددې خبرو تپوس رانه و نکړې ځکه چه دایو داسې غم لړلی داستان دی چه په اوریدو یې دهر با در ده انسان زړه غمجن کیږی زه نه غواړم چه دغه مصیبت تاهم و درد وی .....

ما ورته وو یل .

نه خورې ! هر څه چه کیږی ما ته به دا قصه ضرور کوې

هغې یو سوړ او سو زونکی اسویلی و کړ او وې ویل .

زما پلار او خپلوان له دې ځایه په میلونو لیرې پراته دی . . زما پلار دښه جایداداو مال دولت څښتن و . کله چه زه وړو کی وم مابه دخپل کلی له وړو ماشو مانو سره لوبې کولې : په هغه ډله کښې یو ډیر ښا یسته او دنیکو عاداتو په ښکلی ګانه سمبال شوی هلک هم و . هغه دیوه غریب دهقان زوی و . خو زما په زړه یې داسې غلبه حاصله کړې وه چه په هیڅ ډول مې د هغه خو زه مینه له زړه نشوه ایستلی . هغه زما درنګینو خو بو ښایسته تعبیر او دتصور پاچاو په دنیا کښې مې له هغه نه غیر نور هیڅ نه غوښتل . هغه هم خپل دمینې ډك زړه ماته سپارلی و اوخپل ژوند اومرګ یې زما په وجود پورې تړلی ګانه .

کله چه لوی شونو زمونږ مینه هم ځوانه شوی وه اودهغې په ویستلو سره زمونږد زړونو جرړې هم روغې نه شوې پاتې کیدای . . . ؟ .

په دې وخت کښې داوښکو سیلاب دهغې ستونی بند کړاوخبریې په مرۍ کښې پاته شوه خپل زوی ته یې مخ واړاوه اودسر په اشارت یې ترې او به وغوښتې . هغه په یوه پیاله کښې او به راواخیستې اومورته یې ونیولې . موریې داوبو نه یوغړپ وکړ اوویې ویل :

وروره ! نولنډه یې داچه څه مو د ه پس هغه غریب ځلمی زما پلار ته مرکه ولیږله خو څرنګه چه له هغه سره مال اود ولت نه واو د یوه بې وسه د هقان زوی و پلار مې په ډیره بد ه وضعه له له کوره وشاړه .

په ماقیامت ومګر دمحیط دناوړه دود دستور په دغسې کلکو ځنځیرونو تړلې شوې وم چه له خولې مې آه قدرې هم نه شو ایستلی .

ورو سته تر هغه ډیرونو ر و خلکو هم وغوښتم مګر زما دپلار درو ندشرایطو ته هیچاهم غاړه پسته نکړای شوو چه تر څو یو مشهور سوداګر زما دپلار ټول شرایط ومنل اوزه یې واده کړم دوه درې شپې یې هلته تیرې کړې او بیایې دلته راوستم . هغه څلور نورې ښځې هم د رلودې خو کله چه یې زه واده کړم خپله یوه ښځه یې

وشړله. پس له یو کال نه زما کره زوی وشو خود زوی مې لا شپږ میاشتې پوره نه وې چه پلار یې بل واده ته ملاوتړله او زه یې د خپل کوچنی ماشوم سره له کوره وشړلم. ما ډیرې زاری و کړې چه په هغه کور کښې مې دیوې مزدورې په حیث پریږدی خو هغه ونه منله او ویل یې چه زه دا نارو ا کار نه شم کولی او په ډیر بدحالت یې تشه توره له خپل ماشوم زوی سره وشړلم . . . . .

په دې وخت کښې یې بیا د اوښکو رود په مخ روان شو او خپلو خبرو ته یې ادامه ورنکړی شوه. څه لږه شیبه چوپه وه او بیا یې وویل :

هوو رو ره ! نو پس له هغې ورځې په ما ډیرې سختۍ تیرې شوې ډیرې شپې مې په لوږه او تنده سبا کړې او دیو ټوک ډوډۍ د پاره مې د ډیرو خکو مزدورې کړې ده.

د دوو کالو راهیسې د همدغه خان چه اوس یې هم په کور کښې ناست یو مزدوری کوم. تر څو چه جوړه وم تمامه ورځ به مې ورته په ډیر صداقت کار کاوه. هغوی به هم بیګا یی دومره ډوډۍ را کوله چه زما او د زوی شپه مې پرې تیره شی. خو د درو میاشتو راهیسې چه سخته ناروغه شوې یم او هیڅ کار مې د لاسه نه کیږی هغوی هم ډوډۍ نه را کوی. هره روځ راته وایی چه کار نه شې کولی له کوره ووزه. زما وسه نه شته نو سترګې مې سپینې کړې او پرته یم .. دغه وه زما د ژوندلنډه قصه چه درته ومې کړه .

د دې قصې په اورید وسره زما په سترګو کښې هم اوښکې راغلې او په نیولی اواز کښې مې ورته وویل :

خو رې ! په رښتیا سره چه په تا ډیر ظلم شوی دی مګر څه وکړم نور خو مې څه د لاسه نه کیږې لیکن د پیسو له لحاظه به تر خپلې وسې مرسته درسره کوم ...

څه پیسې مې له جیبه را وویستې او ورته ومې ویل :

ـ اوس دا وخله تر بلې هفتې پورې به مو ګذاره پرې وشی او بیا به زه ستاسو پوښتنې ته راشم.

هغې د شکر یې او مننې په خاطر سترګی ښکته کړې او رڼې اوښکې یې د بڼو له څوکو را و بهېدلې.

پس له هغې ورځې د هغې مظلومې ښځې ژیړه زیښلې څېره او رڼې اوښکې تل زما په سترګو کښې ګرځیدې خو څو ورځې وروسته څه وخت چه له خپل دفتر څخه راتلم اراده مې وکړه چه د هغو پوښتنې ته ورشم هماغه وه چه ور روان شوم. په دې وخت کښې د مازیګر ژیړ لمر خپله لمن ورو ورو د بامو له څوکو او سړکو له مخې ټولو له او د مازیګر سوړ باد د شپې د سختۍ یخنۍ اعلان کاوه ...

کله چه ما دهغوی دروازه وټکوله نو خپلې مخې ته مې یو غټ دوتلې خیټې سروستر ګو او غټو بریتو خاوند ولید . هغه سپین کمیس او پرتوګ اغوستی او یولوی وړین پټو بې له ځانه چا پیر کړی و . ما ورته په ډیر احترام سلام وکړ خو هغه بې له کوم ځواب څخه رډرډ را ته وکتل .

ما وویل : وروره ! و بښه تاسو ته مې تکلیف در کړ خو زه ستاسو د هغې نو کرې یعنې د توریالی د مور پوښتنې ته راغلی یم او غواړم یو ځل یې ووینم . هغه په ډیره تنده لهجه راته وویل : ته څوک یې او د هغې سره دې څه کار دی.

ما وویل: زه یو انسان یم او غواړم هغه مظلومه ووینم او ورسره د مرستې لاس وغزوم هغه ښه توند شو او په غضبناک آواز کښې یې وویل:

— ته څه یې چه له هغې سره مرسته کوې د پطلون نه خودې وشرمیږه ... ما ته ځان ښکاره کوې .. کم بخته تاغوندې خلک زما نو کران دی نو کران !

ما ورته وویل : زما له تاسره څه کار نشته مګر دومره د رته وایم چه ته نور په هغې بې وسې او غریبې ښځې ظلم او زور نه شی کولی که زه هر څه یم او هر څوک یم ستاله وحشی او خونخوارو منګولو څخه به هغې مظلومې ته نجات ور کوم او هیڅ قوه او طاقت ماله خپل دغه سپیڅلی عزم څخه نه شی اړولی .

هغه د تمسخر او استهزا نه د کې خنداسره راته وویل:

تا زه له کاره وویستم ځه ورک شه له دې ځایه .... نو رمې سرمه خو ږوه . د توریالی مور مې درې ورځې پخوا له خپل کور نه شړلې ده هغو اوس دلته نشته .

ددې خبرې له اوریدو سره زما دزړه رپیدا زیاته شوه رګونو کښې مې په ډیره چټکتیا سره وینه ښکته پورته وځغلیده ، او ورته ومې ویل :

— نو اوس به هغوی چیرته وی ... ؟

— زه نه یم خبر چه چیرته به وی !

دا یې وویل او په ډیر قوت سره یې دروازه پورې کړه اولاړ .

وروسته له هغې ورځې زه ډیرو ګرځیدم ډیرې پوښتنې مې وکړې خو هغوی مې پیدا نکړای شوه .

دهغې مظلومی او د محیط دناوړه دود دستور ښکار شو ښځې او دهغې کوچنی ماشوم ژیړې څېرې ننوتلو ستر ګو اوړنو او ښکو زړه دردوونکی یادزما ستر ګې هم نمجنې کړې دی او تل مې په ستر ګو کښې رڼې او ښکې ګرزی را ګرزی .

محمد رحیم الهام

د ژبې د څېړنې اصول

—۲—

گرامر

۱۷-دیوې ژبې دټولو مو ر فیمو څېړنه امکان نه لري

د یو ې ژ بې په گر امري څېړ نو کښې د ټو لو مشخصو مو ر فیمو څېړ نه ځکه امکا ن نه لري چه د مو ر فیمو شمېر یې زښته زیات وي . خومورفیمو نه داستعمال دځایونو دخصوصیاتو په اساس په ټا کلو ډلو کښې سره راغو نډ ولي شو او د جملو او عبا رتو رغاونه دمو رفیمو د د غو ډلوله مخې تشر یح کو لی شو. په دې ډ ول زموږ تشریح کېدونکی مواد په یو لړ سره مر بوطو اجزا وو ویشل کیږ ي .

مثلا په پښتو کښې :وړ-، کو-،څښر- ،وه - ، او داسې نور ،دمور فیمو یوه ستـــره ډلـــه تشکیلوي همدارنگه: -م (د واحد متکلم نښه په فعل حا ل کښې) او - ونکی (د فعل د اجر ا کونکی دپاره دصفت نښه - فاعلی صفت) یوه بله کوچنۍ ډلو تشکیلوي. لومړۍ ډله (وړ- کو-،څښ-،وه -)د ویمه ډله(-م)او همدا رنگه د ریمه ډله (-ونکی) په ځانگړي او خپلواك ډ و ل نه پکا ر یږ ي ، بلکه لومړۍ ډ له دد ویمې او د ر یمې د لې له مو رفیمو څخه همېش وړومبی ا و د ویمه او د ر یمه ډ له له لومړۍ ډلې څخه دتل دپاره سمدستي وروسته راځي، لکه:

وړم ، کوم ، څښم ، و هم

وړونکي، کوونکي ، څښونکي، وهونکي

هیڅکله دویمه او د ریمه ډله له لو مړۍ ډلې څخه وړومبی نه شي پکا رېد ي،یعنی نشو ویلی: ☆م و ړ،م کو،م څښ،م و ه ،یا:☆ ونکی وړ، ونکی کو، ونکی څښ ،و نکی و ه .

(د اعلا مه☆دمور فیمو د ترتیب ناممکنوالی ښیی)

دپو رته دو وډلو مثا لو داجزاوو د وقوع ترتیب غلط دی.

همدار نگه دویمه او د ریمه ډله له لومړۍ ډلې څخه ور وسته پرله پسې هم نه شي ر اتلای ، لکه :

وړم ونکی یا و ړونکی م ، کوم ونکی، کو و نکی م ، څښو نکی م یا څښمونکی ، وهو نکی م یا وهمونکی .همدار نگه :قلمونکی یاقلم ، سپیونکی یاسپی م هم په پښتو کښې نه استعمالیږ ي، ځکه چه (قلم،سپی) د مور فیمو یوه بله ډله تشکیلو ي.د مور فیمو د ډلو په باب کښې ټو ل دغه ډول حقایق په بسیطوا وساده تشریحا تو څر گند ېدای شي ، خو که په پوره

همدغه ډول دپښتو ټول مورفیمونه وڅېړل شي،دمور فیمودشمېر د زیاتوالی اوذوخت د کموالی له امله به امکان ونه لري.

۱۸-ریښې او افکسونه :-

دنړۍ په ټولو ژبو ،او همدا رنګه په پښتو کښې، دمور فیمو بیخی څرګندې اوښکاره ډلې د«ریښو» او «افکسونه» ډلې دی.

مثلا:وړ-، کو-،څښ-، وه - ،او داسې نور، مور فیمو نه د ریښې یوه ډله تشکیلوی ،او بیا کاغذ،پښه، ټغر او دغه راز نورمورفیمو نه د ریښې په یوې بلې ډلې کښې شاملیږی.دپښتو زیاتره مورفیمونه «ریښې» دی چه شمېر یې زرګونو زرګونو ته رسیږی.م،ونکی،ورلکه په: وړم، څښو ونکی،وهو کښې) افکسونه دی. افکسونه هغو مورفیمو ته وایی چه د ریښو په سر ،مینځ ،پای کښې ور سره نښلی . پښتو دوه ډوله افکسونه لری : یو ډول یې هغه افکسو نه دی چه د ریښو په سر کښې ورسره نښلی او «سرینه» نومیږی دویم ډول یې هغه افکسو نه دی چه د ریښو په پای کښې نښلی او پسینه نومیږی . د سرینو او پسینو د څرګندولو د پاره له افکس څخه وړومبی یا وروسته یوه لنډه کرښه کښله کیږی ، مثلاً دسرینې دپاره کرښه وروسته ترافکسه او د پسینې له پاره وړاندې ترافکسه کاږو، په دې ډول :

د سرینې له پاره ،لکه د «ووهـه» د «و» د سرینې له پاره و- او دپسینې له پاره ، لکه د«وهم» د «م» د پسینې له پاره -م لیکو .

د ریښو او افکسو تعریفول ، که څه هم ګران او دلته غیر ضروری دی، خو ویلی شو چه : افکسو نه هغه مورفیمو نه دی چه له ریښو سره نښلی ، او ریښې د کلمو درغاونو مرکز او محور تشکیلوی همدا رنګه، په اوسط ډول ، ریښې تر افکسو او ږدې وی او شمېر یې هم ،غالباً ،تر افکسو زیاتوی .

۱۹-دافکسوډولونه

هسې چه پاس موهم ګوته ورته ونیوه ، په پښتو کښې دوه ډوله افکسو نه شته:

الف - سرینې (PREFIXES) : هغه افکسو نه دی چه له مناسبو ریښو څخه وړومبی راځی ،لکه :

و-په:ووهه،ووهم،واخله،وواهه ، کښې

ور-په:ورځه ،ورشم ،ورغی، ورشه، کښې

در-په،درځه،درغلم ، درغی، کښې

په-په:په زوره ،په کراره کښې

نا-په:نابېره،ناکاره، ناوړه کښې

بې-په:بې پلاره،بې کوره، بې ناکه کښې، او داسې نور .

ب-پسینې(SUFFIXES) :هغه افکسو نه دی چه له مناسبو ریښو څخه سمدستی وروسته راشی،لکه :

زور (-ه،-په) په : ووهه کښې

م-په: وهم ، چښم کښې

و-په: وهو ، چښو کښې

ې-په: وهې ،چښې کښې

ی-په: وهی، چښی کښې

است-په: واباست، ښیاست کښې

ی-په: وهی، چښی کښې

ای-په: وهلای،چښلای کښې

و نکی-په: وهو نکی،چښو نکی کښې [۱]

په پښتو کښې ډیر د اسې تر کیبو نه هم شته چه په عین حال کښې سرینه او پسینه د واړه ولری، لکه په [و-لر-ی] کښې چه [و-] سرینه، [-لر-] ریښه او [-ی] پسینه ده. ځینې نور مثالونه یې دادی :

پورې-وت-ل (پورې وتل)، پورې- لرینه، - وت-ریښه ،او -وت-ل پسینه ده.

پورې-وت - و نکی: پورې - سرینه ،- ونکی: پسینه، او داسې نور.

۳۰-مونډ (STEM) او مرکب-

افکسونه یا سیخ په سیخ له ریښو سره او یا له داسې رغاونو سره نښلی چه له یوې ریښې او یو یا دوو نورو مورفیمو څخه تشکیل شوې وی. داډول ساختمانونه گرد سره د «مونډ» په نوم یادیدای شی. مونډ هغه مورفیم یا د مورفیمو ترکیب ته وایی چه افکس ورسره و نښلیږی. مثلا د پښتو په «ملگرتیا» کښې ملگر (ی) مونډ دی چه په عین حال کښې ریښه هم ده او «تیا» افکس دی. «ملگرتیاوې» د اوې او یو افکس او د «ملگرتیا» یو مونډ لری چه د غه مونډ ریښه نه ده، ځکه چه له د وو مورفیمو (ملگر-تیا) څخه تشکیل شوی دی. ځینې مونډونه د اسې کلمې وی چه دوه یا زیاتره ریښې لری او ځکه «مرکب» ورته وایه شی.

مثلا «سرپوش» داسې یو مرکب دی چه دوې ریښې لری (سر+پوښ) ، « سرپوښونه » یو مرکب مونډ (سرپوش) او یو افکس (-ونه) لری.

۳۱-الومورف (ALLOMORPH)

ځینې مورفیمونه داستعمال په ټولو موارد و او په مختلفو ځایو کښې صرف یو صورت لری ، لکه:- ونه په: کتابونه، لامونه، میزونه کښې ، او که څه هم د کندهار په لهجه کښې ځینې خلك دغه /-ونه/ چه په زور (لکه UNA-) مختوم دی له ور وستی زور کی سره یعنې د /UNE-/ په شکل تلفظ کوی، خودا کوم څرگند او تشریح کېدونکی بدلون نه دی. یعنی پښتو-ویونکی په ټولو موارد و کښې دغه مورفیم د /UNA-/ په شکل تلفظ کوی او لهجوی اختلافونه یې هومره زیات توپیر نه لری. خو داسې نور مورفیمونه هم

(۱) د پښتو د سرینو او پسینو او دهغو د اشتقاقی، صرفی او ترکیبی خصوصیاتو په باب کتې و گورئ: د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، رشتین، مخونه ٦٤-٧٠ کابل، ۱۳۲۷

A GRAMMAR OFOPASHT، بنزل مخ ۸٤. او د دغه کتاب د الاندې عنوانونه ٤٠، ٧٦، ٦، ٧٦ لف، ٧٦-ب، واشنگتن ۱۹۵۵ .

شته چه په ځینو موارد و کښې یې تلفظ بدلیږی (مګر معنی یې نه بدلیږی!) مثلا د جمعې یو مورفیم /-ان/ په پښتو کښې په پنځو رایجو ډولونو تلفظ کیږی، په دې ډول:

په دوستان کښې: /-ان/

په بو ډا ګان کښې: /-ګان/

په آشنایان کښې: /-یان/

په پاچاهان کښې: /-هان/

په خپلوان کښې: /-وان/

که څه هم دغه مورفیم په مختلفو موارد و کښې بېل تلفظ ونه لری خود چا چه پښتو مورنۍ ژ به وی پوهیږی چه /-ان- ګان- یان -هان- وان/ تقریباً یوشی دی. ددې خبرې د اثبات له پاره باید چه ددغه مورفیم د استعمال ځایونه د زیات شمېر مثالونو په واسطه و از ما یو، نو به راته ثابته شی چه:

ان- له کانسو نینت څخه وروسته راځی،

یان- او -ګان له واول څخه وروسته راځی،

هان او- وان نادر صورتونه دی او کله چه استعمال شی دموند واولونه در سره بدلیږی. مثالونه یې دا دی:-

-ان: ماران، دوستان، باغوانان

-ګان: یابوګان، همسایه ګان، لالاګان- نیکه ګان.

-یان: اشنایان، میرزایان، ملا یان، بندیان

(-هان): څاهان (نادر صورت، په کندهار کښې)، پاچاهان (ندرة)

-وان: خپلوان (له نورو کلموسره نادر دی).

د منا سبو موندو له پاره د دغو مورفیمو د استعمال غوره کول دیوې ژبې (دلته د پښتو) داصلی ژغیدونکو عادت وی، یعنی په اتوماتیکی ډول سره یې بې له غلطۍ وایی. د دې ډول لفظی شکلونو او د استعمال د مواردو د تشریح کولو د آسانتیا له پاره ژبپوهان د «مورفیم» او «الومورف» دوې اصطلاوې پکار وی. الومورف د یوه مورفیم هغه اوښتی شکل ته وایی چه په یوه تاکلی، تشریح کېدونکی صوتی محیط کښې استعمالیږی. نو مورفیم دیو یا زیاترو الومورفو څخه داسې یوې تشکیله شوې ډلې ته وایی چه د استعمال د ځایو او د معنی له مخې یو ډول او شریک ځر ګند ممیزات ولری. نو په دې حساب - ان، -ګان، یان، (هان)، -وان، چه پاس یې مثالونه راغلی دی د یوه مورفیم پنځه الومورفونه دی اودا ځکه چه د استعمال د ځایو واضح او تشریح کېدونکی منظم او تاکلی ځایونه لری او ګرد سره یوه معنی (د جمعې معنا) افاده کوی موږ په پښتو کښې د الومورف له پاره «اوښتی لفظی واحد»، که څه هم اوږده اصطلاح ده پکار ولی شو.

۲۲- په ژبپوهنه کښې د «واحد» ګڼې ارزښت:-

د الومورفو او مورفیمو، او همدارنګه د نورو واحدو تصدیق او ګڼنه د تشریحی ژبپوهنې له خورا مهمو اساساتو څخه دی.

دغو حقایقو مهموالی هم د آلې په حیث او هم دژ بې دحا دثې د څېړنې له نظر ه دی دژ بې څېړنه دفونیم او مورفیم ددوو اساسي واحدو او همدارنګه دګرافیم GRAPHEME (کتبی واحد) پر ګڼنې (فرضیی) بناده. له دغو اصولو او ضابطو سره د ژ بې له علم سره مربوطې تیو ر ی او تکنیکونه ښه مختګ او تحو ل کړی دی. په نورواجتماعی علمو کښې د دغه ډول ضابطو او پرنسیپونه تطبیقېدل دژ بپوهنې او دنورو لسانی حا دثو د څېړنو خو را مهمه ممیزه ګڼله کیږ ی .

۳۳- د مورفیمو فونیمی مشروطوالی :-

یوه حادثه هغه مها ل مشروط کیږی چه له هغې سره نور شرایط هم یوځای واقع شی. ددې خبرې معنی دانه ده چه دغه حادثه دشرایطو علت وی، بلکه مقصد یې د ا دی چه دواړه نسبتاً په یو ه مها ل کښې داسې سره و ا قع کیږی چه یوه دبلې دوقوع په مرسته بیشګویی کېدی شی . مثلاً دا دوې قضیې : «چېرې چه او ر و ی • هلته لـو ګی هم وی . او چېرې چه لو ګی وی ، هلته او رهم وی . » د واړه مشر و طې قضیې دی . صر ف یو ه قضیه یې دعلت قضیه کېدای شي او دا هم ضروری او حتمی نه وی چه هرومرو دې دعلت قضیه وی دجمې دمورفیم / - ان - یا ن - ګان - ها ن - وان / پنځه ګونی الو مورفونه مشروط دی ، ځکه چه هریو یې په هغه مهال کښې استعمالیږی چه ورسره تا کلی او تشریح کېدونکی عوامل موجود وی . زموږ په دې مثال کښې مشروط کوونکی عوامل د ما قبلو فونیمو صوتی ما هیت د ی . یعنی / - ان / یـوا ز ی لـه کا نسو ننتو څخه وروسته ؛ / - ګان / او / یان / له واولو څخه وروسته راځی .

نوویلای شو چه دغه ا لومو ر فو نه د صو تی واحدو (فونیمو) له امله مشروط کړی شوی دی که څوك له فونیمی ویش څخه خبرو ی د د ې خبر ې صحیح پیشګوی کولی شی چه له دغو مورفیمو کوم یو یې په کوم ځای کښې راځی .موږ دپښتو په حیث ددغو الومورفو هریو په تا کلو ځایو کښې په غیرشعوری او اتوماتیکی ډول د استعما لولو دپاره انتخابوو .خودژ بې څېړونکو په حیث دخپلو دغوعادتو له پاره تشریحې کلیمې جوړوو اودهغو په اساس مناسب انتخابونه کوو. زموږ دا کلیمه ځکه صحیح وی چه دژ بې د ژغید ونکو دیولاشعوری عادت ا و ملکې په حیث د همیش له پاره یوه تا کلې نتیجه لری .

دغه اتوماتیکی انتخاب د پښتو دسا ختمان یو جزدی او بایده د ی چه زده کړی شی. دا ډول انتخاب یو «مطلق طبعی» شی نه دی ،او که څه هم زموږ په نزد طبعی شانته بریښی خودخیار جبانو په نزد بیاغیر طبعی ښکاره کیږی. په دې کښې هم څه شک نشته چه ددغو الومورفو د غه ډو ل انتخاب مطلق عمومیت هم نلری .مثلا په پښتو

کښې /ـان- وروسته له واول څخه هم په ځینو کلمو کښې، لکه په/ کېوان /، /ما کوان/ کښې راځی. په دغو دواړو ډولو کښې /ـان/ صورتونه دماقبلو فونیمو په واسطه مشروط شوی دی د/ـان- انتخابول هم له دواړو ډولو سره اتوماتیکی او په عین حال کښې قانونی او منظم دی.

۲۴ـ دمورفیمو مورفیمی مشروطوالی :ـ

دالومورفو انتخابول د مورفیمو په واسطه هم مشروط کیږی. په دې ډول مشروطوالی کښې دالومورف انتخاب کله د یوه تاکلی مورفیم او کله ددوو مورفیمو په واسطه مشروط کیږی او داله معنی سره تعلق نیسی نه له فونیم سره مثلاً د / خپل/ جمع /خپلوان/ راځی ./ـاوان/ دجمعې داسې یومورفیم دی چه صرف له همدې ریښې سره نښلی او بس. پښتانه په اتوماتیکی ډول دغه مورفیم د/خپل/ دجمعې له پاره انتخابوی او/ خپلونه / غلط ګڼل کیږی . ددغه انتخاب په مورد کښې کومه صوتی اغېزه نشته دجمع کیدو دا عجیب صورت صرف د / خپل / له مورفیم سره اړه لری ، که نه وی نو ټول دغه ډول مورفیمونه په/ـونه / جمع کیږی نود وان/ انتخابول د/خپل/ دجمعې له پاره مورفیمی مشروطوالی لری

۲۵ ـ دالومورفو دلیکلو نخښې :ـ

دالومورف او مورفیم دلیکلو دپاره، دزیاتو مکرراتو څخه دژغورنې له امله ،د ځینو کښلو شوو نخښو شته والی ضروری بریښی . ژبپوهان دالومورفو داختلافاتو. دځر ګندولو دپاره د «له» نخښه کاږی چه معنی یې «تو پیرلری» یا «ورسره بدلیږی » یا صرف «یا» د. مثلا کولی شو چه /ـ ان له ـ یان له ـ ګان له ـ هان له ـ وان/ ولیکو او مقصد مرداوی چه د غه پنځه صورتونه دیوه مور فیم الو مور فو نه دی .

دمورفیم دښودلو دپاره هم دغه نخښه کښلی شو . که یومورفیم څو الومورفه ولری نو ښایی چه دلیکلو په مهال کښې یې د هغه دټولو الومورفو صورتونه هم ولیکو. خودا به بهتره وی چه یوازې داسې یوه نخښه ورته پیدا کړو چه ټول مختلف صورتونه احتوا کړی شی ددې مقصد دپاره د[ ]قوسینو نخښه کاږو . ددغو قوسو په مینځ کښې هغه مو ر فیم لیکو چه ورباندې بحث کوو. نو کله چه دغه ډول یوه نخښه تعریف شی نو باید چه په ټولو مواردو کښې دغه یوه نخښه و کښلې شی او بد له دې نکړای شی مثلا موږ د پښتو دجمعې دد غه مورفیم د پاره [- ان]یا [- ګان] یا نور متغیر صورتونه بې انتخابولی شو. سره له دې یوه رایج صورت دپاره

د[-- ان ا] نخښه لیکو. دا نخښه به له /-ان له — یان له - گان له — وان له — هان/ سره مساوی وی. [— ان ا] داسې لوستل کیږی: «دلومړی ان مور فیم».

۲۶- ځینی نورې نخښې چه په مورفیم پوهنه کښې پکاریږی:

[ ]: ددې نخښې په منځ کښې ږغونه هسې چه اورېدل کیږی ثبت کیږی او له فونیمی ریکارد سره څه اړه نه لری.

/ /: په دې نخښه کښې فونیمونه ثبت کیږی.

[ ](۱): دا نخښه د مورفیمو د ثبتولو د پاره پکاریږی او د مورفیمو له تلفظ سره کوم تړون نه لری.

و ،: دا نخښه د اصطلاحاتو د معنی کولو او د دغه راز نورو مقصدو له پاره لیکله کیږی.

☆: دا نخښه د داسې صورتو د ښودلو د پاره لیکله کیږی چه استعمال یې امکان و نه لری.

د[ ] او / / نخښې د امریکایې ژبپوهانو له خوا زیات عمومیت لری. [ ] د زیات شمېر پوهانو له خوا استعمالیږی. سره له دې هم د بیان کړی شوو حقایقو له پاره په ټولې نړۍ کښې یو ډول بین المللی نخښې نشته او هر څوک کولای شی چه مناسب او آسانه نخښې اختراع او استعمال کړی.

---

(۱) په دې فرق چه د قوسینو مینځ به قات بیرون ته وتی وی.

قدرت الله حداد

شپه او ورځ د کدو خوراک هسې خو په خوله

آسانه خبره ده مگر د صبر او استقلال

دواړو د پاره یو لوی

امتحان دی !!

یو ولس چه لرغونی کیږی او پیړۍ پیړۍ پاتې کیږی، دهغه لویه وجه داده چه په ولس کښې ځینې میړونه له عادی وګړو پورته استعداد لری او دوی د خپل هیواد درغاونې د بنسټ پخې او درنې تیږی وی - دغه پیاوړی میړونه د ومره قوت لری چه که عوامل او شرایط هر څومره مخالف او نامساعد شی نو بیا هم دوی د قوی زړه په حیث کار کوی او هیڅکله تن یا هیواد د مرګ لاس ته نه سپاری. د پښتنو ولس کښې هم دغه د لویو زړو نو - ماغزو او ارادو خاوندان پیدا کیږی چه په هر مهال کښې خپل ولس له څلاڅل او هلاک څخه ژغور وی.

د دغو لویو شخصیتو په ماغزو کښې لویې مفکورې او عالې سوچونه پراته وی چه د دوی د مادی ژوند خرابوالی او سختې بې انتظامۍ ته هیڅ پام نه وی، تر دې حده پورې چه د غه بې انتظامی دد وی په وجود کښې پیدا کیږی او خپله روغتیاله لاسه ورکوی او د مرګ تر ګړۍ پورې له خپلې مفکورې او عقیدې څخه نه اوړی. هغوی خپله عقیده اصله بولی او ښه یې ساتی - نورې خبرې فرع بولی او نه پسې ګرځې.

دادی په دې مقاله کښې د پښتونستان او پښتنو د لویو شخصیتو او دغه راز خلکو په لړ کښې پریوه سړی باندې ګړیږو:

دغه لوی سیاسی او علمی شخصیت چه زه ځپله مقاله ورباندې لیکم قاضی عطاءالله نومیږی، د پښتنو تاریخ په څلورو ټوکو کښې لیکلی، او د پښتنو په سیاسی ژوند کښې یې لویه برخه اخستې ده. دلته لومړی دده ژوند لیک بیانوم. بیا دده پر شخصیت څو خبرې کوم وروسته بیا د مرحوم ماسټر عبدالکریم عقیده او تاثرات د نمونې په ډول دده په برخه کښې لیکم:

ژوندلیک:

قاضی عطاءالله خان د مرحوم قاضی نصرالله خان دوهم زوی دی (غالبا) په ۱۹۱۸ع کال یې د علی ګړ له پوهنتون څخه د وکالت شهادتنامه اخستې ده. (یعنی د حقوقو په څانګه کښې یې زده کړه و کړه) او وروسته یې د مردان په سیمه کښې په وکالت پیښه و کړه چه د خاص

لیاقت له کبله یې نوم پورته شو. ده لایونیم کال وکالت نه وکړی چه په ۱۹۱۹ع کال کښې ده په هغې لو یې هګنامې کښې ګډون وکړ کوم چه په اتمانزو کښې د پښتنو له خوا درولټ بل په خلاف جوړه شوې وه دا جلسه د خان عبدالغفار خان له خوا را بلل شوې وه. د خان عبدالغفار خان وینا په دغه جلسه کښې له مهمو تاریخي وینا ووڅخه وه چه پر پښتنو یې خورا لویه اغیزه وکړه. قاضي صاحب عطاءالله خان که څه هم په دې جلسه کښې عملي برخه وانه خیسته مګر له همدغې ورځې دده سیاسي عقیدې ژوندی شوې او جذبې راوپاریدې.

سمدلاسه په ټولو محفلونو کښې دده نوم خپور شو. باچا خان له خپلو ملګرو سره بندي شو او اوه اته میاشتې په بند کښې پاتې شول. خو وروسته له بنده د اصلاح الافاغنه انجمن جوړ شو او قاضي صاحب په انجمن کښې شامل شو.

په ۱۹۲۱ع کښې د خلافت تکل شروع شو او کومیټې یې جوړې شوې. باچا خان د صوبه سرحد د مشر په حیث د دریو کالو له پاره ونیول شو او قاضي صاحب هم دغه (د خلافت تحریک) ته د احترام په نظر وکتل او د انګلیسانو رسمي کار یې پرېښو د د ۱۹۲۹ع کال د سپتمبر په میاشت کښې د خدایي خدمتګار نهضت شروع شو البته په لومړی سر کښې یې (د ځوانانو د جرګې) نوم درلود خو قاضي صاحب دغو ډلو سره ډیرې مالي او ځاني مرستې وکړې.

په ۱۹۳۰ع کښې کانګرس د سیویل د نافرمانۍ فیصله وکړه خدایي خدمتګارو تاریخي اولو یې قربانۍ ورکړې - په دغه وخت کښې قاضي د خدایي خدمتګارو د مشر او پناه ګاه حیثیت درلود.

په ۱۹۳۱ع کښې د مارچ میاشت وه چه دګاندي دارون سوله وشوه بندیان خوشې شول. د خدایي خدمتګارو نهضت خورا قوت وموند قاضي صاحب په دې وخت کښې د باچاخان ښي لاس ګڼل کیده. او دهیواد هر ګوټ ته به یې منډې وهلې او خپل ولس به یې ویښاوه. په تیره بیا د مردان په علاقه کښې د ده نفوذ او رسوخ زښته زیات شو قاضي صاحب په دې وخت کښې د خدایي خدمتګارو ډیر خرڅ له ځانه کاوه اولوی مادي تاوان یې زغملی و.

انګلیسانو په ټول هند کښې اصلاحاتي پروګرامونه عملي کړه او دغسې پروګرام یې د صوبه سرحد (پښتونستان) له پاره هم منظور کړ خو پښتنو دهیوا بشپړه خپلواکي وغوښته - په نتیجه کښې د ۱۹۳۱ع د ډسمبر د میاشتې په ۲۴ او ۲۵ د خدایي خدمتګارو دفعالو غړیو ګرفتاري وشوه چه په دې ترڅ کښې قاضي صاحب د پښتنو د څلورو لویو مشرانو په ډله کښې ونیول شو (باچاخان - ډاکټر خان صاحب - قاضي صاحب او سعدالله خان صاحب).

په ۱۹۳٤ کښې پرته له باچاخان څخه نور بندیان پر ښبول شول- قاضي صاحب هم وطن ته راغی په ۱۹۳۷ ع کښې ډاکټر صاحب په کابینی کښې دمعارف وزیر مقرر شو. دري کاله یې دغه وظیفه لراه او خلکو ته ثابته شوه چه دی دوزارت لیاقت په کافی اندازې سره لری.

په ۱۹٤٦ ع کښې قاضی صاحب له مردان څخه په انتخاباتو کښې بریالی شو او داخلی دمالیې دوزیر په حیث مقرر شو یو کال وروسته پاکستان جوړ شو ډاکټر خان صاحب او قاضی صاحب دواړه دمخالف حزب په حیث بیکاره پاتې شول. دده دمعارف دوزارت په وخت کښې پښتو ابتدایی ښو ونځیو کښې ننوته- ده د پښتو تاریخ په بندی خانې کښې ولیکه. کله چه قاضی صاحب دپښتنو دحقوقو مطالبه له پاکستان څخه وکړه نو دپښتنو دنورو مشرانو سره دپاکستان دحکومت له خوا بندی شو- ده داخلې خپله روغتیاله لاسه ورکړه او دعلاج له پاره یې هیڅ اقدام و نه شو. که څه هم څو څو ځله یې دخپل علاج درخواست وکړ خو دپاکستان حکومت دی په داسې وخت خوشې کړچه دده له ژوند څه نه وو پاتې. دوه دري ورځې وروسته دلاهور په بوې شفاخانې کښې د ۱۹۵۲ ع کال دفبروری دمیاشتې په نولسمه وفات شو.

شخصیت:

دپښتنو تاریخ په څلورو ټوکو کښې لیکل شوی چه لومړی ټوک یې په ۳۱۰ مخو او دوهم ټوک یې په ۳۱۲ مخو او دریم ټوک یې په ۵۲۱ مخو نو کښې لیکلی دی په دریم ټوک کښې ده د پښتنو تاریخ دامیر عبدالرحمن خان تر وخته پورې رسولی دی. او ښکاری چه له ده سره نور مطالب هم موجود وو خو مرګی مهلت نه دی ورکړی څلورم ټوک هم مرتب شو- دریم ټوک د پښتنو سیاسی معاصر تاریخ چه پاخه اسنادلری او ده دانګلیسانو استعماری کارنامې مفصلی ښودلی او ډیرو ځایو کښې یې عینا انګلیسی متنونه را اخستی دی چه د پښتنو ځلمیانو له پاره یې د خپل ولس په متعلق کافی شواهد راغونډ کړی چه پښتنو ځلمیو ته دپلوماسی حربی او اجتماعی حالات ښیی. مرحوم قاضی صاحب دپښتنو دتاریخ په لیکلو سره دپښتنو زده کوونکو له پاره ښکاره خدمت کړی او ددوی له اوږ ویې یودروند بار لیری کړی- او دپښتنو تاریخ یې دیو لوی مؤرخ په حیث لیکلی که څه هم قاضی صاحب نور قلمی آثار لری خو د پښتنو دتاریخ اهمیت دومره زیات دی چه نورو آثارو ته یې ځای نه پاتې کیږی- به تیره د پښتنو معاصر تاریخ.

ښاغلی خلیق لیکی چه د ۱۹٤۷ ع د اپریل په اخر کښې قاضی صاحب دپښتنو دتاریخ مسوده ماته را کړه چه پاکنویس یې کړم- لومړی برخه یې چاپ شوه خو لا جلد بندی نه وه شوې چه قاضی صاحب ونیول شو- داخلی دسیاسی مشرانو یوازې نیول نه وو بلکه ددوی دلکونو روپیو جایدادونه

هم ضبط شول او د کورلوښی او سامان یې د شلغمو په بیه لیلام شول. چه کتاب تمام شو نو ماد سند حیدرابادسنترل جیل ته یوه نسخه چه قاضی صاحب هلته بندی وو لیږ له.

مادوهمه برخه هم چاپ کړه خو نوره څه مسوده لاراسره پاتې وه چه د قاضی صاحب خط راغی نو ښکاره شوه چه هغوی نوره ډیره برخه هم لیکلی ده. خلیق لیکی چه: «څنګه به د قاضی روح ته دا پیغام ورسیږی چه تولې مسودې چاپ شوې.» له پورته جریاناتو او هم د دریم جلد له اخری موضوعاتو څخه د اخر ګندیږی چه قاضی صاحب خپل اثر لا تمام کړی نه دی- مخکښې د کتاب تر بشپړ یدو د ده د عمر کتاب د حکومت له خوا ختم کړی شو.

د قاضی صاحب عطاءالله خان عزم ـ ا راده شخصیت د هغو لیکو نو له متنو نو څخه څر ګند یږی- کوم چه ده له بندی خانې څخه خپلو ملګرو ته لیکلی دی او ور وسته سړی پوهیدای شی چه د پاکستان د حکومت ټول د بار او فشار د ده قوی روح ته کومه صدمه نه ده رسولې. قاضی په یوه لیك کښې چه د خان عبدالولی خان په نامه یې له سنترل جیل لاهور څخه د ۱۹-۷-۱۹۵۱ ع کښې لیکلی وایي: «پوره دوه میاشتې کیږی چه پر له پسې کډو و خو رو شپه او ورځ د کډو و خوراك هسې خو په خو له اسانه خبره ده ولې د صبر او استقلال د واړو د پاره یو لوی امتحان دی د ادروغ ده چه ما سره د ځان فکر نشته ځکه زه په دې فکریم چه زه به دا تللی صحت څنګه بیر ته را ګرځوم مګر استقامت هم د ومره بویه چه موږ د کډو و په خو رو کښې ښکاره کړی دی، داد ظلم یوه ښکاره نمو نه ده چه د یوه لوی شخصیت له پاره چه صحت او روغتیا یې له لاسه ور کړې د وه میاشتې بې خونده کډو ور کړ شی، له دغه ځایه دی چه پښتانه قاضی یو ملی شهید بولی زه دې خبرې ته حیران وم چه قاضی صاحب ته شهید و لې وایی دی خو په روغتون کښې په خپل مرګ مړ شو مګر کله چه ما د ده د ژوند حالات په جیل کښې ولوستل نو ما ته د اخر ګنده شوه چه دی وژل شوی او د پښتونستان د آزادی له ستر و قربانیو څخه ګڼل کیږی. د همد غه لیك په یوه بل ځای کښې لیکی: «خو مره ګرمی چه اوس په لاهور کښې ده زه د هغه بیان نه شم کولای- یا خو د اخبره ده چه زه په وجود ضعیفه او ډیر کمزوری شوی یم نو د ګرمی مقابله نه شم کولی مګر عاشق شاه باچا وایی چه واقعا ګرمی سخته ده زما په وجود ګرمکې راختلې او هر وخت را نه خولی بهیږی او د ورځې په ګرمکو واوره موږم». بیا دغه محترم شخصیت وایی: «دالله فضل دی زما حوصله ډیره ښه ده او خپل روزانه ورزش د ګرځیدو کوم او ښه بشاش یم» په همد غه مکتوب کښې عبدالولی خان ته لیکی: «تا سوله د مچ د تما ترو د تیار فصل به پاتې

کیدو خپه شوم خو ز موږ د غه شا ن قسمت دی چه موږ بې کرو او نور بې ر یبی،

د هر سړی دې ته پام کیږی چه دیوه واقعی مشر او نا بغه انسان د ومره له لاسه کیږ ی چه دوه میا شتې بې کډ وان خوړلی و ی په وجو دبا ندې گرمکې (وړې دانې) را ختلی وی روغتیا یې له لاسه ور کړې وی خو بیا هم د پښتنو تاریخ لیکی او خپله حوصله ښه ښیې نو قاضی صاحب د پښتو ن ملت له پاره سر بیره په تاریخ افا غنه لیکلو یو کر کټر اوعزت نفس هم میراث پریښی دی ؛

پښتو ن ملت دده په مر گ خوراخواشینی شو او د پښتونستان او افغا نستا ن مطبو عاتو په گډه سره د او یل چه خد ا یږ و کله به په پښتنو کښې دقا ضی صاحب ځای ډ ك شی .

بې حسابه ځاځکی تو ی په بحر و بر شی
له اکو نو کر وړ و نو یو گـو هـر شی

په دې لړ کښې چه د پښتنو احساسات دقاضی صاحب په بر خه کښې ځر گند شی د مرحو م ماسټر عبد ا لکریم د هغه لیك بوځو کر ښې رااخلم کو م چه ده دخان عبدالولی خان په نامه لیکلی. او دابه د پښتون ولس د تاثرا تو یوه کمکی نمو نه و ی :

ر اته گرانه و لی جانه!

ا لسلا م علیك و رحمته و بر کاته :

که ډیر یې پټ کړم کله پټیږی- فریا د به کاندې چه څوك خو زیږی و لې! خبر شوی به یې چه دخد ا بی خد متگا ر د جما عت زړه ودریدـ دباچاخان ښی لاس مات شو دعلم او عمل بله ډیوه مړه شوه ـ او هغه سر چه دمکار کننگهم عیار کیږ و او بد کار ډنداس ته نه وښکته شوی- دخدا ی (ج) مخکښې قیټ شوملگر و اکه دغله دمورد کندو ترشاوژړل نه دجیل جنده گوزه شوه او نه خلکو له خپگان نه کار پریښود، سکول- کالج اتی با زارهم نه شو ل بند .

ولی! دقام یو نر خادم څو مره په بیکسی کښې مړ شو.

ولې! راځه چه نن په چغو چغو وژ اړو ـ راځه چه دا اسمان په سروا خلو- نه را ځه چه عرش ولړ زوو ـ راځه چه داوښکو په ځای وینې توی کړو- ځکه چه دیرشو کالو خواری مو او بو یو ړله ـ منم چه قامی کارونه په یو کس پورې اړه نلری- خو داسې ځای تش پاتې شو ـ په خدای که پښتانه یې په عمر و نو ډك کړی شی .

ما ستر عبدالکریم خپل لیك په دغو جملو ختموی :

«هیڅ پر وانشته که جنده ښکته نه شوه ـ او په دې چه ا تی- با ز ار ونه بند نه شول ولې! راځه چه دې پاك روح ته خپل د عقیدت لوړ بیر غونه ښکته کړو او په جهر و و ایو چه اې پاك او سپیڅلی روحه ! تا ته سلام! »

که چیرې ماهغه ټول واقعی مطالب دده په برخه کښې لیکلی وای یقینی چه خبره زښته اوږدیدله او ښایې چه یو کتاب ځینې جوړ شوی وای. مگر دغه مقا له یو کمکی نظر د ده په ژ وند باندې په شمار راتلای شی

پا ی

دما کسیم گورکـې اثر

مترجم: م ـ ناصر نصرت

روسۍ نجلۍ

لمر ورووروغوښته چه دسیند پرهغه غاړه ولویږی چیرته چه دیوه خان ښکلې ما نۍ ښکاریده ـ کومه چه دزمانې په تیریدو سره خرابه شوې ـ او پر شاو خو ایې نا کاره واښه شه شوی وو .

دلمر په زرینو وړانګو کښې نا کاره واښه ډیرښه ایسیدل یو ړوند (تاتار) دلارې په یو اړخ کښې ناست ـ او څه نور تاتاریان پر را ګرځیدلی وو غوښته یې چه دخپلو هغو افسانو او خاطرو په لړ کښې چه ده ته معلومې وې ـ یوه انتخاب او حاضرو ملګرو ته یې په یوه داسې مخصوص طرز سره چه ستر ګې یې له خشمه سرې ـ او تندی یې غوټه نیولی وشروع کړی .

ړانده یوه قصه چه ډیر ځله یې له پخوانو څخه اوریدلی وه ـ ښه یې په یاد او څو پلا یې پخواهم تاتاریانو ته کړې وه خوښه کړه .

دړانده سپین زیری آواز ډیر ضعیف او لړزیدونکی و ـ قهر جنې بڼې یې ډیرې آرامې وې لیکن په ضعیفه لهجه یې خپل نقل داسې شروع کړ :

☆ ☆ ☆

دلته په دې ماڼۍ کښې چه اوس یې درواز ې ماتې او دیوالونه یې نړیدلی دی یوه مشهور (خان) له خپل زوی سره ژوند کاوه . خان ډیر سپین زیری او زوړو . لیکن په حرمسرای کښې یې ډیری ښځې درلودلې . دحرمسرای پر ښکلو او زړه وړونکو ښځو باندې داخان خورا ګران و . ځکه چه په هغه کښې لا تر او سه هوس او احساسات زیات لیدل کیده .

دخان مهربانیو او شفقت به دحرمسرای ښځې تل په هیجان راوستلې (ښځې عموماً دنار ینه و زوړوالی او مات ګوډ وجود ته توجه نه کوی ـ هرسړی چه جار او قربان ورته ووایې او ښه یې ونازوی پر ګران وی) . خان دحرمسرای پر ټولو ښځو ګران و خان یوه روسۍ نجلۍ چه د (دنهٔ پر) له صحرا و څخه یې راوستلې وه دحرمسرای تر نور و ښځو زړه ته زیاته نژدې کړې وه ـ او تل به یې په خندا او خوښۍ راشه درشه ورسره کوله .

دخان په حرمسرای کښې دتولې دنیاله ښارونو شخه درې سوه ښکلی اونازکې ښځې چه هره یوه یې دپسرلی دښکلی گل په څېر وه سره تو اې شوې او په خوښۍ سره اوسیدلې۔ خان روسۍ نجلۍ چه زړه ته ورتیره وه تل به یې دهغې لوړې مانۍ پرسر چه هلته دد ریاب یوه برخه ښکاریده دځانه سره ساتله۔ او چه هره گړۍ به یې دمینې په غیږ کښې نیوله۔ دعشق اووفاداری اظهار به یې ورته کاوه. په دې لوړه مانۍ کښې روسۍ نجلۍ ته په هروخت کښې هرشه لکه خواړه۔ شیرنی - وریښمین رنگ په رنگ کالی سازونه او حتی دلیرو ملکو شخه به ښکلی ښکلی مرغان ورته حاضروو۔ خودخان معشوقه زهیره نه شی۔ او پرښکلې بڼه یې دغم او خواشینۍ غبار رغلبه ونه کړی «محبت وچه مین هرشه دخپلې مینې په اختیار کښې ایښی وو» خان به چه کله کله دروسۍ نجلۍ له څنگه ناست او دهغې پرپستو ویښتانو به یې لوبې کولې فکریې کاوه چه (آیا تردې ورو سته به دروس په صحرا او نورو گاونډیو ملکو کښې یوداسې څوك پیداشی چه په چورو چپاو سره دده په شان زیاتې گټې لاس ته راولی۔ او داسې ښکلې ښکلې نجونې یې په لاس ورشی.

دې پوهیده که یې زوی (آلقالا) په خپلوو ینو لژندشی خو بیا به هم د (خپلو پلروا و نیکو نو) شرف او حیثیت پرځمکه ونه ولی.

یوه ورځ (آلقالا) د روسا نو سره جنگید لی او بریالی بیر ته راغلی و. څرنگه چه هغه زیاتې ولجې لاس ته ور وړی او غالب شوی و نو خان دخپل زوی دبریالیتوب به افتخار یو ښه جشن جوړ کړ. په دې جشن کښې زیات سپین زیری - مشران شهزادگان اولوی لوی کسان بلل شوی وو. په دې جشن کښې ناڅگرې په دومره شهوت آمیزه توگه ناڅیدلې چه د بلل شو یو خلکو زړونه یې ویلول. دجشن مجلس تودو او لازمه وه چه تفریح او ساعت تیری وشی. تردې اندازې چه ځوانانو به لیندې په لاس کښې نیولی۔ او دهغو نتلو او بدبختو خلکو ستر گې یې چه داسارت په بند کښې گیر راغلی وو هدف کړی او په دې توگه به یې خپل زور او قوت ازمایه.

بد بختو بند یانو به دغشوز هرآلو دوخو کوته بر گې ستر گې نیولې۔ او چه غشی به یې ښه په ستر گو ونښت یو دردناك فریاد به یې وکړ او پر ځمکه به وغور ځیدل حاضرین به له دې منظرو څخه په خنداشنه شول او هم به یې ملنه یې پرې وهلې

ټولو حاضرینو دخان دتخت وتاج د حامی او دزړه ورځوان (آلقالا) تعریف او توصیف کاوه خان په دې صفتو سره خوشحاله شوی و او د یو داسې زوی په وجود سره له ډیره ویاړه په کالو کښې نه ځائیده خان له دې امله چه تر خپل مرگ وروسته د آلقالا په شان ځای نیوونکی زوی لری هره ورځ او په هره گړۍ کښې به خوښ او خوشحاله و او په زړه کښې به یې یوه ذره خواشینی هم نه حسوله.

خان خوشحاله واوضمناً ددې د پاره چه خپل تراندازې وتلی ګرانښت زوی ته ښکاره او اظهار کړی دشرابو یوه ډکه پیاله یې په لاس کښې نیولې اوداسی یې مخاطب کړ: «القالا! ته ډیر ښه اوزړه ور هلك یې اوزموږ له سره کم نه شې.» حاضرینو ټولو آمین کړه وروسته خان خپلو خبرو ته داسې ادامه ور کړه: «زه ډیر شکر کوم سره له دې چه زه لا اوس هم ژوندی اودفرمانروایی قدرت مې شته ـ یوداسې زوی لرم چه هغه کولای شی زما دتخت ساتلو ترعهدې ووزی. قوت ـ دمتانوزور ـ کامل او سالم عقل، ښه صورت ـ بالاخره ټول شیان یې پوره دی. «القالا! ووایه وګورم چه له پلار څخه به څرنګه سوغات وغواړې ووایه ـ هرڅه چه وغواړې درته حاضر اوموجود به یې کړم.»

دزاړه خان دغه زغ لاخپله انګازه نه وه ورکه کړې چه «القالا» له ځایه ولاړ شو او چه خپلې توري غټې ستر ګې یې خان ته نیولې وې ورته ویې ویل: «امر کوو نکې پلاره! روسی نجلی مانه را کړه» په دې آواز سره خان چپ شو اوزړه یې سکوت وکړ لیکن لږ څه ور وسته یې په لوړ آواز وویل:

«... ښه ده ـ ښه ده ... روسی نجلی دې ستاوی او د جشن د مجلس تر خلاصید وور وسته هغه له ځانه سره بوزه، ځلمی القالا له ځایه وخوځید او له ستر ګو څخه یې دسعادت او خوشبختی رڼا پورته شوه او چه دپلار له ښې اړخه سره و درید ـ و یې ویل:

«زما مهربانه پلاره! زه پوهیږم چه تاماته څومره ګرانبها سوغات را کړا وداتحفه خورا زیات ارزښت لری. زه تردې ورو سته ستا مریی یم او حاضر یم چه ستاسې په خاطر ځان قربان کړم ـ اوماته بې له دې سوغاته نور څه لازم نه دی.»

خان خپل سرچه په عمرو عمرو یې کښته نه واچولی اوله کبر اوغرور څخه یې ځمکې ته نه کتل کښته نیولی و ـ څه ګړی ـ وروسته دخوښی او ساعت تیری مجلس خلاص شو خان اوالقالا (پلار او زوی) په چپه چوپتیا کښې دحرمسرای وخواته رهی شول.

شپه تیاره وه پراسمان لکه چه یوتور پیخول غوړ یدلی وی ـ دزیاتې تیارې څخه یوستوری هم نه ښکاریده. سپوږمی په تکو تورو وریځو کښې پټه وه ـ ترلږ څه لارې وهلو وروسته په داسې حال کښې چه د شپې تیارې اوچوپتیا پرهرځای حکمفرمایی کوله زاړه خان په خبرو کولو داسې شروع وکړه:

«ژوند مې ورځ په ورځ لکه شمع ویلیږی زړه مې له کاره لویدلی اواحساسات مې مری زما یوائینی تکیه یوائینی هیله هغه ښکلې روسی نجلی ده چه زړه ته قوت اوخوښی بخښی. مړه احساسات مې را ژوندی کوی. دهغې تش کا ته ماله یوه عالم څخه وبل عالم ته بیایی اوپرمستی مې راولی.

«زویه ! ووایه آیاهغه تاته حتمی اوضروری ده که ته سل نورې ښکلې نجونې وغواړې اوحتی زما دحرمسرای ټولې زړه وړونکې ښځې دې په کاروی حاضریم چه دریې کړم اما.....اما ..... روسۍ نجلۍ مه غواړه اوهغه له ما څخا مه اخله .»

القالا شاوخواخپل فکرونه سره وځغلول خوهیڅ ځواب یې ورنه کړ .

خان بیاوویل : «زه به تریو څوکلوپورې لاژوندې یم اوزماددغه پاتې عمرسعادت دروس دښکلې نجلۍ په وجود پورې تړلی دی . هغه ماښه پیژنی او زما سره دزړه له کومې مینه لری که دازماله لاسه ووزی نورنو .....»

القالا بیاهم ځواب ورنه کړ .

خان:« کله چه ته هغه دخپلې مینې په غیبز کښې ونیسې آیازه به ژوندی پاتې شم ؟

« القالادا هم وا وره ښځې پلا راوزوی نه پیژنی موږ ښځو ته یو شی یو . آه ! نه پوهیږم چه زمادژوند پاتې ورځې ولې په داسې سختۍ اوخواشینۍ سره تیریږی کشکی مې هغه ټپونه چه په وینو تویوونکو میدانو اوجنګو کښې اخیستی دی سره خلاص-اووینی یې دفوارې په شان وبهیږی - دغه تیاره اوو یر وونکې شپه څله . . . . . »

القالا چپ و. د واړه دحرمسرای لویې دروازې ته رسیدلی ودریدل. دوی سرونه کښته اچولی وویوه هم یووبل ته دکتلو قدرت نه درلود تریوې ګړۍ پورې په هماغه چوپتیا سره هلته ولاړوو . تیاره خپره او په آسمان کښې وریځو په چټکۍ سره حرکت کاوه - باد دونو پاڼې سره لړزولې- یوناموزون اوویروونکی آواز یې غوږ وته رساوه :

بالاخره القالا سکوت مات کړ -اوو رو یې په دې خبرو شروع وکړه :

«هغه پرما خو راګرانه او زما ژوند ورپورې تړلی دی .»

زاړه خان وویل:«پوهیږم لیکن په دې هم پوه یم چه دروس ښکلې نجلۍ اصلا ستا سره مینه نه لری »

القالاوویل:« کله چه ددې یادپه زړه کړم زړه مې په ټوپو شی اوغواړی چه سره وچوی .»

زوړخان:«ښه! اوس به زما دزهیر او ناتوانه زړه څه حال وی» بیا چپ شوا و لږ ګړۍ وروسته یې بیا خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ :

«رښتیا هم داده چه هغه (روحانی) سړی ماته داڅنګه ښه نصیحت وکړچه :

ښځه د نارینه د پاره ضروری ده که هغه ښکلې وی زیاتې هیلې اوارزوګانی به ورسره ملګرې وی اوخپل څښتن به په ډیرو تکلیفو اوپریشانیو اخته کړی.

که ښځه بدرنګه وی میړه به یې په حسرت

سره نورو ښکلو ښځو ته ګوري ـ له خواشینۍ او خوابدۍ څخه به هلاك شي.

او که ښځه نه ښکلې وي نه بد رنګه ـ پر میړه به خو راګرانه وي او د واړه به په ښه او خوشحاله توګه سره ژوند وکړي رښتیا هم داده چه له ښکلې ښځې څخه باید بې له زحمت ـ تکلیف او بدبختۍ څخه بل څه ونه لیدل شي لکه دغه روسي ښکلې نجلۍ ...

«آه زما د زخمي او لژند زړه وز خموته به دا خبرې څه ګټه ورسوي. یه! باید اساسي فکر وشي تر دې خبرو وروسته خان سرپورته کړاو زوی ته یې وکتل ـ ترکتلو وروسته یې زوی (القالا) داسې ورته وویل: «راشه چه دا ښکلې نجلۍ مړه او له منځ څخه یې ور که کړو چه په دې توګه به دواړه په راحت شو».

خان: «آیا ترما او ترهغې پر تا خپل ځان ګران دی».

القالا: «پلاره! آیا ته داسې نه یې؟»

خان: «هو! زه همداسې یم (خان سوځوونکی عشق په بله بڼه کړی و).

القالا: «پلاره! څه وایې آیا هغه مړه کړو که یه؟»

خان: «یه. زه دومره واك نه لرم چه هغه ستا په اختیار کښې در کړم او زه هم نه شم کولای چه هغه مړه کړم.»

القالا: «زه هم نور نه شم کولای چه دبیلتانه په اور کښې سوی پاتې شم یا زما له وینو ډك زړه راو چوه او یا هغه ماته را کړه.»

خان چپو او دالقالا خبرې همداسې روانې وې. «او هم ښه داده چه له غره څخه یې و دریاب ته ارتاو کړو.»

خان د زوی خبرې پسې تکرار کړې وې ویل:

«هو! هغه به له غره څخه و دریاب ته وغور ځووو» تردې وروسته دوی حرمسرای ته ولاړل.

روسي ښکلې نجلۍ پر رنګارنګ فرش باندې خرامانه غزیدلې او په خوازه خوب بیده وه د وی د واړه د ښکلې نجلۍ د بالښت وسرته ورغلل ـ او دهغې د ښکلی بدن ـ ښایسته بڼې موزون او زړه وړنکی قد او اندام په تماشا کښې وو.

دزاړه خان له سترګو څخه داو ښکو غټ غټ څاڅکی دهغه پرسپینه زیره باندې څڅیدل او دمرغلر وددانې په شان ایسیدل ـ القالا هم په تتو سترګو و ښکلې روسي نجلۍ ته کتل خان هغه له خوبه ویښه کړه ـ ښکلې نجلۍ لکه یو سور ګل چه نوی وغوړ یږی خپلې غټې سترګې یې پرانستلې چه القالا یې ونه لید خپلې سرې شونډې یې خان ته نژدې کړې او په نرم آواز یې ورته وویل:

«باداره! ماښکل کړه ـ ماښکل کړه!.»

خان په ضعیف او نیولی آواز سره ورته وویل:

«پورته شه ـ پورته شه ته باید زموږ سره ولاړه شي».

په‌دې ترخ کښې رو سی حساسې نجلۍ ، القالا او د خان له ستر ګو څخه څڅېد لې اوښکې ولیدلې او هغه پوه شوه چه کیفیت څه‌اوواقعه څنګه ده .

«ځمه‌ـ ګرانه‌ځمه ـ زه‌به‌نه تاته اونه هغه ته پا تې شم‌تاسې هم‌دغسې فکرکړی دی ډیر ښه فکر دی ځم اومرم »

هغه پوه ګلا لۍ او خو ش طبعه نجلۍ وه‌د وی لا ډ یره لا رنه‌وه‌وهلی چه‌ستړې‌شوه لیکن‌دومره مغروره او متکبره و ه چه هیڅ یې نه غوښته چه‌خپله ستړیا ښکا ره کړ ی ـ کله‌چه دخان زوی ولید له‌چه‌دانښکلې نجلۍ وروسته پا تیږ ی‌نو یې و ر ته و ویل :

«ډ ار یږ ی ؟»

نجلۍ په د ا سې حا ل کښې چه‌خپلی غټې او هو سنا که ستر ګې یې و ا لقا لا ته نیولې وې و خپلو پښو ته چه و ینی ځنې بهید لی اشا ر ه و کړ ه .

هـو ! ځیګووښو د نجلۍ نـا زکـې او پستې پښی زخمی او په‌وینولړلې وې ـ القالا خپل لا سونه و هغې ته غزولی اوور ته و یې ویل : « راشه ـ راشه چه په غیږ کښې د ې واخلم . » لیکن رو سی ښـکلې نجلۍ خپل لاسونه د زاړه خان په غاړه کښې وروا چول اوځان یې د پتنګ په‌شان دهغه په غیږ کښې وروا چاوه . خا ن نجلۍ په خپل غیږ کښې نیولې‌اواوزی ته یې پورته کړه ـ نجلۍ‌د خان په غیږکښې د ونو هغه پا نې چه په لار کښې دد وی د تګ مانع کیدی ـ یوې اوبلې‌خوا ته وهلې اود خان د پاره یې لا ر خلا صو له ـ د یره لا ربې ووهله ـ ورو ـ ورود سیند د څپو آواز غوږ وته ورسیده ـ القالا ناڅاپه اوبې مقد مې خپل پلا رته وو یل .

« ودریږه! چه‌زه مخکښې ولاړشم ـ زړه مې راته وایی چه‌سره وچوم ښایې‌چه وروسته تلوله امله دې په تا کښې خنجر ښخ کړم . »

« راځه مخکښې شه ـ راځه خدا ی دې تاته پخپله جزا در کړی ـ زه تاپښم‌او پوهیږم چه مینه ډیره سخته اوز ور و ره د ه » ـ په تګ کښې دسیند سا حل ډ یر و حشتنا که او ډ ا روونکی ایسیده . د هغه هیبتنا که څپې له یوې غاړې څخه بلې غا ړې ته وهلې کیدې او بیرونکی آوازو نه یې غوږوته رسو ل .

خان روسی ښکلې نجلۍ‌په ځیګر پورې نیولې اوچه د آخری پلا د پاره یې پر ښکلې مخ ښکل کړه ورته و یې ویل : « اې ګرانې خد ا ی دې مل شه ! » .

ګلا لۍ نجلی چه په سړ ه سینه سر ه تر خپلو پښولاندې د سیند قهرجنوڅپو ته نژد ې کید له و خان اود هغه زوی ا لقالا ته چه په خیره ستر ګو یې ود ې ته کتل وو یل :

«ما ارتا و کړیء ! ما ارتاو کړیء ! »

خان پرلاسو باند ې نیولې اوچه وزړه ته یې نژد ې ـ او پر سپینه خو له با ند ې یې

د آخرې ځل د پاره د خدای پامانۍ په توګه ښکل کړه — د ستی یې د بې انتها څپو په غیبز کښې ورارتا وکړه. (هلته چه دوی ولاړوولاندې له څپو څخه آوازونه پورته شول او کله چه یې دروس ښکلې نجلۍ له لوړې څخه خروشانه سیندته ارتاووله هیڅ ږغ او فریاد یې وانه وریدل شو) څپڅپانده سیند هغه خپله ښکلې متاع داسې تیره کړه چه هیڅ یې دې ته پرې نښووه چه یو جز یې آواز دچا وغوږ ته ورسوی. له قهره ډکو څپو داسې آوازونه پورته کول چه په بې سروپایه اوبو کښې دهغې ښکلې نجلۍ په غورځید و سره نه دزاړه خان (آه) او نه دعاشق (فریاد) واوریده شو. دسیندبې رحمه څپو هغې زړه وړونکی ګلالۍ نجلۍ ته دهمیشه د پاره پخپلې بې عاطفې غیبز کښې ځای ورکړ. خان چه ډیر غمګین ودیوې پلنې تیبزې پرمخ کښیناست او دفکر په یوه داسې جهان کښې چه لاندې یې وحشتناکه دریاب — اوهغه ځای ته چه دده وفاداره معشوقه دابد د پاره هلته ورکه شوې وه ځیرو. بادچلیده اودزاړه خان سپینه او ګڼه ږیره یې سره ښوروله — القالا هم خان ته څېرمه ولاړ — او لکه یو بې حرکته مجسمه پرستر ګو یې لاس نیولی وچه څه شی ونه وینی — او وریځې هم لکه دخان فکر ګډې وډې وې. القالا نور نشوای کولای چه سکوت اختیار کړی نو یې وویل:

«ځو — ځو — نور کار مو نشته.»

پلار یې: «یه! اوس به ولاړ نه شو.»

زوی: «اوس هم زیات وخت تیرشو سخت باد چلیبزی — لکه چه دباد دشدت له امله دونو څانګې ماتې او پا نې یې پرمځکه توئیبزی. پلاره ولاړ به شو ولاړ به شو.»

پلار یې: «اوس به ولاړ نه شو.»

زوی یې: «پلاره! ولاړ به شو! ولاړ به شو.»

القالا داخبرې تکرار تکرارو کړې. خان څرنګه چه خپله ګرانه او ښکلې مینه دتل دپاره له لاسه ورکړې وه نه یې غوښته چه ولاړ شی. لیکن څه رنګه چه هره واقعه پای لری آخر ولاړ شو زوړ خان داپلا دپخوا په شان هغه وخت چه یو فاتح سردار مغرور او متکبر و په دې پلا یې وروځې ځړیدلی او په کرار آواز یې وویل:

«ځو ..... ځو .....»

دواړه سره رهی شول لیکن ډیره لارلانه ووتللی چه خان ودریده او وې ویل:

«القالا! آخر موږ چیری اودڅه دپاره ځو؟ زما ژوند خو په هغی نجلۍ پورې تړلی و اوس نور ماته ژوند کول معنی نه لری او په څه درد خوری؟ زه زوړ شوی یم او اوس به نورې ښځې دهغې په شان مینه را سره ونه لری — هر کله چه په دې لویه نړۍ کښې په هیڅ شی زړه نه تړل کیبزی بیانو نور ژوند کول څه معنی لری»

زوی یې : «پلاره ! ته خوزیات ثروت او شهرت لری ؟ » .

پلار یې: «ته ماته در وسی ښکلې نجلۍ یوه د خندا وکه خوله رامیسر کړه زه به دهغې په عوض کښې خپله ټوله دارایی او نوم ونښان تاته در کړم دا ټول شیان بی روحه مړی او بی ارزښته دی شهرت او ثروت دانسان په درد نه خوری په دې دنیا کښې د ژوند او خوشحالۍ د پاره فقط او فقط (ښځه) ده که هغه پرچا کرانه نه وی زیاتی نود انسان ژوند په هیڅ درد نه خوری زویه ! دخدای په امان - دخدای په امان ځم زه هم ځم خدای دې ستا ملګری شی .ځم زه هم په هغی ښکلې نجلۍ پسې ځم .القالاداد وفریاد و کړ. پلاره !چیرې ځې چیرې ځې؟ وروسته یې تراوږ وونیو(یو څوك چه د مرګ په تلاش کښې وی څوك نجات نه شی ور کولای په کومو ځایو کښې چه څوك د مرګ په هڅه کښې وی ممکن نه ده چه هغه دې په منطق استدلال او یا زور و جبر له هغه کار څخه راو ګرځوی او یا په عقل او دلیل سره دې دهغه په زړه کښې د ژوند دا مید ډیوه بله کړی) ماپریږده-ماپریږده-خدایه ته می ملګری شې.»

خان خپل ځان دزوی له لاسه څخه ایله او په منډه منډه یې ځان هغی لوړ ې برخې ته کوم چه هلته روسی ښکلې نجلۍ یې له هغه څخه ارتاو کړی وه ورساوه د رسیدو سره سم خان په راسې چټکۍ سره ځان سیندته ارتاو کړچه دخان دغورځیدوشړپ هم معلوم نه شو اونه یې زغږوزوغ واوریده شو - دسیند څپې بیا هم په وحشتناکه توګه له بوې خوا څخه بلې خواته سره وهلې کیدې - القا لانریوې ښې ګړی بورې ودریاب ته متوجه او وروسته یې په لوړ آواز وویل:

«خدایه ! اې لویه خدایه ! ماته هم بولوی اوقوی زړه راکړه » چه دایې وویل رهی شو اودزاړه خان پرځای کښیناست . (پای)

مأخذ: ټولو دپاره اساسی معلومات

د میر اکبر ترجمه

دنړۍ ادبیات

— ٤ —

په تیره گڼه کښې در نسانس په دوره کښې دفرانسې دلیکوالو او دهغو د آثارو په باره کښې خبرې وې په دې گڼه کښې ددغه نهضت لمن په هسپانیې او نورو لویدیځو هیوادو کښې کتله شویده.

دهسپانیې برخه

دغه ادبی نهضت چه له ایټالیې څخه شروع شوورو وروفرانسې او له هغه ځای څخه هسپانیې او انگلستان ته ورسید دهسپانیې دادب په اسمان کښې ځلانده ستوری د (دونکویکزوت) مؤلف (سروانتیس) دی. (دونکویکزوت) د هسپانیې دیوه لیونی کیسه ده دغه سړی داشرافو او دهغو داعمالو په باره کښې ډیر رومانونه لوستی چه په پای کښې یې دماغ خراب شو دی په اخره کښې خپل ځان دیو نامتو اشرافی قهرمان (سرگالاهاد) په څیره وینی.

(دون کویکزوت) یوه ورځ په یوې بادی ژرندې ددیو گومان کوی. په خپل اس (روزیانتی) سپریږی او سخته حمله پرې کوی ترڅو چه یې سرد ژرندې په پایې لگیږی او په ځمکه هوار لویږی. بل وخت ده دسپیو په یوې رمې برغل وروړ ځکه چه ده دا گومان کاوه چه داد شیطانانو ډله ده چه په بدلو جامو کښې غواړی له غضب څخه یې ځان خلاص کړی (دون کویکزوت) دیوې میخانې په خدمتگارې باندې د شهزادگۍ گومان کړی و او ټوله شپه به تر سهاره پورې د کلی په مخ کښې پهره دارولاړ وا و د لیونی په شان به سپوږمۍ ته ناست و او سپورټی حرکات به یې کول.

(دونکویکزوت) دکوچنیانو دپاره دساعت تېرۍ کیسه شوی. خو که دغه اثر په دقت سره تر پایه ولوستل شی نو دا به معلومه شی چه تر دې لاډیر اهمیت لری او لوړه معنی په کښې پرته ده. په حقیقت کښې دغه اثر د لرغونی اشرافی نظام او دهغه درو ماټیک ادب یوه هجوه ده. لکه چه (لارډ بایرون) په خپل اثر (دون ژوان) کښې لیکی: «سروانتیس دهسپانیې په اشرافو پورې خندلی دی».

په (دیکامرون) کښې د (بوکاشیو) کیسې په څرگند ډول دبت پرستۍ روحیه لری. کیدای شی

چه دغو کیسو ته غیر اخلاقی یا دا خلا قوضد ووایو. ددغو کیسود ممثلینو په نظر کښې ژوند دمعاشقې یوه لوبه وه او تردې پور ته اهمیت یې نه درلود د(سروانتیس) کیسې ډیری ژورې دی. د(دون کویکزوت) په نظر کښې ژوند په ځمکه باندې دفساد په مقابل کښې له جهاد څخه عبارت و. کیدای شی چه دی لیونی وی ځکه چه د ده دماغ له ډیرو مجنونانه اوهامو څخه ډک و ـ خو د اخلاقو له حیثه دی په حقه واو اعمال یې د اخلا قو له غایې سره سم وو. ده د متعصبینو لیونتوب درلود.

د هغې زمانې د ټولو کیسو په شان په (دون کویکزوت) کښې ځینې داسې شیان شته چه دنن ورځې له ذوق سره مطابقت نه کوی. ځینې داسې برخې او پارچې په کښې شته چه که په مثبت ډول غیر ضروری او بدې نه وی نو ډیرې عامیا نه خو دی. د(دون کویکزوت) وفادار ملك (ساپخو پانزا) د انسان په طبیعت کښې د حیوان نمایندگی کوی.

(سروانتیس) او (شکسپیر) دواړه په یوه ورځ (۱۶۱۶ کال دا پریل ۲۳) مړه شول ـ دوی دواړه ستر فانتازی لیکوال دی او هغه څوك چه له فانتازی کیسو سره علاقه لری ټل په دې آرزو دی چه کاشکې دغسې دوه ستر شخصیتو نه په وروستیو وختو کښې هم پیدا شوی وی.

په هسپانیې کښې ځینې نور ستر لیکوال هم موجود وو لکه: (دون کالډیرون) چه (شکسپیر) دهغه ځینې لوبې اخیستې دی ـ او د(لوپ دوویگا) چه دژوندانه فعالیتونه یې په دوو برخو ویشل شوی دی: یوه هغه چه په عشق بازیو کښې تیره شوی ده او بله برخه یې دلوبو په لیکلو کښې له تیاترسره یې ډیره مینه لرله. په وروستیو وختو کښې یې د ملی صنم او د شهزادگانو دمحبوب حیثیت پیدا کړی و خوز یا ته برخه یې په غربت او بې وزلۍ کښې تیره شوه. دعصری ډراماتستانو په نظر کښې دغه روایت دباوروړنه دی چه وایې نو موړی پرته له بې شمیره شعرونو او نورو ادبی پارچو (۱۸۰۰) کومیډۍ لوبې لیکلې دی خو کوم شی چه دباوروړ دی هغه دادی چه دده اثارو نړۍ ته دقدر خدمتونه کړی دی.

دانگلستان ادبیات پخوا له رنسانس څخه

ډیر منقدین په دې فکر دی چه انگریزی ادبیات دنړۍ ترټولو غنی ادبیات دی هغه رنسانس چه ایټالیې ته یې د سامۍ او شعر الهام ورکړ په انگلستان کښې یې ادبي فعالیت ډیر تشویق کړ. پخوا له دې چه (نورمانان) په انگلستان باندې مسلط شی په هغه هیواد کښې ادبی آثار لږ وو. هغه لږ څه چه د هغې زمانې دادب په نامه یاد یږی پرته له مسلکی زده کونکو نور څوك یې نه لولی. دهغه وخت دیاد و نې وړشی د(بیو لف) دښاروژلو افسانه ده چه له پنځمې پیړۍ پخوا زمانې

پورې تعلق لري. بل د (الفریډ پاچا) په وخت کښې دانګلو-ساکسون شرح وقایع د ذکر وړ دی. (کیمډون) او (ساینی ولف) د وه تنه مذهبی شاعران ووچه د د وهمې پیړۍ په شااو خوا کښې یې ژوند کاوه. ویل کیږی چه (کیمډون) د انګریزۍ لومړی شاعر دی. (ارترکا پټن) د هغه په باره کښې لیکې: دی ساده او بې سواده و-د (سن هلدا) په صومعې کښې او سیده. ده ته د څار ویو د پوولو وظیفه ورپه غاړه شوه. د سندر غاړو له مجلس څخه ووت ځکه چه برخه یې نشوای په کښې اخیستلای. د څارویو په منځ کښې بید یده. یوه شپه یې خوب ولید چه یو څوک ورته راځی او ورته امر کوی چه سندرې ووایې.

دی ورڅخه پوښتنه کوی چه څه سندرې وبولی او دکوم شی په باره کښې یې وبولی. هغه ورته وایې چه د مخلوقاتو د پیدایښت په باره کښې یو شعر ووایې په دې حال کښې له خوبه راویښ شو. د ویښې په وخت کښې نه یو اځې هماغه شعرور په یادیږی بلکه ډیر داسې نور شعر ونه او غزلې ور په یادیږی.

ورو سته تر هغه راهب شو. انجیل ورته ولوستل شو ځکه چه ده نه شوای لوستلی.

د انجیل ایاتونه یې په نظم واړول. د (کیمډون) له طریقې څخه ډیر و وروستیو شاعرانو (سای نیو لف) په ګډون پیروی وکړه-دنورمانانو له فتحې څخه ورسته تر ټولو لومړی سترنوم د (ویلیم لانګ لنډ) دی. نو موړی د «پیرزد پلومان» مؤلف دی. دی په ۱۳۳۲ کال کښې یو څوکاله پخوا له ستر «شاسر» څخه زیږیدلی دی- دی په ونه لوړ-نری، مغرور او ضعیف سړی و. له اجتماعی ممیزاتو څخه بې برخی و. د ده اشعار دده د وخت او رسومو تصویر دی - د عصر په حماقتونو او بد واستفادو باندې یې سختې حملې کړی دی. دی په هغو کسانو سخت تنقید کوی چه. شرافت پریږدی او په ژوند کولو پسې روانیږی. په بدمستانو او هغه چا باندې چه په بې وزلو او غریبانو باندې ظلم کوی بد وایې. هغه سوداګر چه غولول کوی او هغه واعظین چه په خپلو خبرو عمل نه کوی سخت ملامتوی.

دشاسر دکانتربری افسانې:

د انګلستان لومړی ادبي شهکار چه تر او سه پورې په مینه مینه لوستل کیږی هغه دشاسر د «کانتربری افسانې» دی. د ایو جاویدانی اثر دی شاعر د زایرینو یوه ډله تشریح کوی چه د کانتربری مزار ته روان دی او ددې دپاره چه وخت تیر کړی هرزایر څوڅو قسم افسانې وایې. سره له دې چه د غه افسانې له نورو هیوادو څخه را نقل شوی

دی خو ټولې د(شاسر) په قلم لیکل شوی دی او د(شاسر) د کتاب تر ټولو ښه برخه همدغه افسانې دی. د هغوله جملې څخه دوه افسانې په نثر لیکلې شوی دی او نورې ټولې یې چه اولس زره کرښې کیږی په نظم دی.

زموږ د شلمې پیړۍ په نظر کښې د (شاسر) اشعار تر یوې اندازې عجیب ښکاریږی او املا یې هم نا ما نو سه شا نته ده خو تر څو چه چا لرغو نې انګریزی نه وی لو ستې د دې کتاب ځینې برخې حتی لو ستلا ی هم نه شی. څه نه څه درې سوه کاله وررسته (ډرایډن) نو می شاعر د(شاسر) اثر له سره ولیکه په داسې ډول چه هر څوك یې و لو ستی شی او خوند ترې واخلی. خود(ډرایډن) په دې کار باندې سخت اعتر اضو نه وشوه ډرایډن په دې الفاظو دځان مدافعه و کړه: «زه دا منم چه د تر جمې په اثر به د(شاسر) ځینې شیان ضا یع شوی وی خود کتاب اصل مفهوم پاته دی چه که چیری دغه کار نه وای شوی هغه به یاله مینځه تللی و او یا خو به ګونګ پا ته و ځکه چه تر ډیرې اند ازې وضا حت نلری. فکر کو م چه بې مو قع به نه و ی که زه له هغو کسا نو څخه شکایت و کړم چه هغو ی په (شاسر) با ندې پو هیږ ی او نو ر خلك و ر څخه بې برخې کوی- او غو ا ړ ی چه د بخیلا نو په څیر چه خپل زر ددې دپاره چه په خپله ور ته و ګوری له نو رو څخه پټو ی- دوی هم دغه اثر یوا ځې دځان دپار ه انحصار کړ ي»

د «کانتر بری افسانو» کښې لوی ممثلین په خپله شاعر- ځینې اشراف -روحانیون- حقوق پوهان- کاتبان او ځینې نو ر کسب ګر د ی. د وی په یوه سرای کښې سره یو ځای شو ی او پچه اچوی د هر چا په نامه چه به پچه ختله هغه به کیسه کوله لومړۍ کیسه یو ه عشقې کیسه ده چه ځینې ترا جیکی بر خې لری. خو په پای کښې دعاشق او معشو قې په ازد واج سره ختمیږی. د وهمه افسانه یوه روحانی کړې ده په دې کیسې کښې یو چر ګ تصویر شوی دی چه د یوه ګید ړې په منګلو کښې لویدلی دی او په پای کښې ګید ړغولوی او ځا ن ترې خلاصوی. بله کیسه د یو څو تنو یاغیانو کیسه ده چه د مر ګ په مقابل کښې یې بغا وت کړ ی غو اړی چه مر ګ ورك کړی خو په پای کښې د وی په خپله محوه کیږی.

شاسر په ۱۴۰۰ کال کښې مړ شو او دده له مر ګ سره په انګلستان کښې منځنی پیړۍ پا ی ته و ر سید ې.

تر یوې یادو وپیړ یو پورې بیا په انګلستان کښې د هغه په شان ستر لیکوا ل پید انه شو. هغه نومو نه چه وروسته تر هغه دیادو نې وړدی یو (مالوری) دی چه د (ارتر پاچا) او د هغه د جنګی اشرافو افسانې یې لیکلې دی (ددې فصل په لومړۍ

برخه کښې مو اشاره ورته وکړه) او بل توماس مور دی چه «او ټوپیا» یې ولیکله .

جیوفری شاسر د لندن دیو شراب خرڅونکی زوی دی . دی ترنن ورځې پورې د انګریزۍ د شعر د پلار په نامه یادیږی . په ۱۹٤٦ ع کال کښې دده د کانتر بری افسانې په نامه دلو مړی ځل دپاره په روسۍ ژبه ترجمه شو .

د توماس مور او ټوپیا :

داوټوپیا کلمه چه د(هیچیرې) معنی لری داصطلاح په ډول یوایډیالی او تخیلی مملکت افاده کوی هر کله چه د داسې اسمانی جنت تصویرول په ځمکه باندې ناممکن دی نو دایډیالی او تخیلی دولت لیکل په حقیقت کښې په غیر مستقیم ډول د هغه هیواد په اوضاع باندې تنقید کول دی چه لیکونکی په کښې او سیږی .

کولای شو چه تر ټولو لرغونې او ټوپیا دافلاتون جمهوریت و بولو - خود «توماس مور» کتاب د ډیرو داسې پرابلمو نو په باب لیکل شوی دی چه تراوسه پورې ورته دحل لاره نه ده میندل شوې. دمثال په ډول څوك مجبور دی چه ناپاك کارونه وکړی ؟ (د توماس مور په اوټوپیا کښې دا شان کارد جنایت کارانود جزا یوه برخه وه) .

اوټوپیاوې ډیرې دی. دبیکن «نیو اټلانتیس» دموریس (جزله لامکان څخه) دبټلر (ایزی هون) دهر برټ جارج ویلز عصری اوټوپیا - اوداسې نورې . نن دا و ټوپیا کلمه په سیاست کښې هم استعمالیږی .د(توماس مور) کوچنی شهکار بایددنړۍ دسترو کتابو په جمله کښې حساب شی .

دالیزابت ددورې شعر اوډرام :

تردې دورې پورې په انګلستان کښې په اوږدو وقفو کښې اد بې نوا بغ مینځ ته راتله خو کله چه دالیزابت طلایی دوره راغله په انګلستان کښې دادبی نوابغو شمیر دواره زیات شوچه دیو لیکونکی په قول «انګلستان دخوش اوازاو خوش الحانو بلبلانو ځاله شوه» په ټول انګلستان کښې در نسانس اغیزه ډیره چټکه وه .

لومړی مهم نوم د(اډمونډ سپنسر) دی - په ۵۵۲ کال کښې په لندن کښی زیږیدلی دی (اصلادلانکاشایر اوسید ونکی و) سره له دې چه نومړی له (سروالترریلی) سره دوست شو اودهغه په ذریعه شاهی دربار ته معرفی شو خود عمر لنډه دوره یې په ډیره زیاته خوارۍ کښې تیره شوه. ده ته دشاعرانو شاعرویل شوی دی. داخبره رښتیا هم وه دده اثر دډیرو شاعرانو دپاره لکه: ملټن - ډ رایډ - شیلی - کیټز - ټنی سن اوداسې ډیرو نورو دپاره دالهام سرچینه وه. عوام کله کله

دده اشعار لولی او ویل کیږی چه په پنځولکو کښې یو تن هم دده ترڅولو ستر شعر (دښا پیر یو ه ملکه) نه وی لوستې . خود میرمن او نا (ریډ کراس نایټ) او (بریتومارت) افسانې یې ټولو ته معلومې دی .

په حقیقت کښې سپنسر په نظم کښې دنوی سبك خاوند بلل کیږی . دسپنسر دښا پیر یو ملکه یو افسانوی شعر دی چه د الیزابت د دباری اشرافو او دهغو دماجراجویانه اعمالو په باره کښې لیکل شوی دی . دا عمل په ایرلنډ کښې واقع کیږی ځکه چه سپنسر په خپله په هغه وخت کښې هلته ژوند کاوه .

دایرلینډ دهغه وخت اوضاع ډیره طوفانی اوله کړ کیچونو ډکه وه . د ه نور اشعار هم ویلی دی .

وروسته له سپنسر څخه دالیزابت دد وري ستر درامه لیکونکی داوو : لایلی - پیل - گرین - لاج مارلو - کایډ - اوداسې نور . دغو د راماتسټانو د شکسپیر د ظهور د پاره زمینه برابره کړه دشکسپیر په نثر کښې دلایلی او په رومانتیك کومیډیانو کښې د پیل او گرین اغیزه ډیره څرگنده ده - همدا شان دشکسپیر په تراجیدیو کښې د (مارلو) او (کایډ) د اثارو اغیزه موجوده ده .

ده ډیر خوازه ملگری لرل چه تل به له ده سره ټول وولکه بن جانسن - بیومانټ - فلچر ډکر - چاپمن اوداسې نور .....

﴿نور بیا﴾

لیکونکی: پروفیسور مارګنسټرن

مترجم: حبیب الله «تبزی»

په پښتو کښې د لهجو مطالعه او اټمولوجی

تر دیر شو کلونونه هم زیات کیږی چه پروفیسور ګایګر د پښتو اټمولوجی (دوراشو ریښه پلټنه او پیژندنه) او «غږ پوهنې» ډیر پوخ اساس په خپل یو مشهور اثر

ETYMOLOGIE UND LAOTLEHRE DES AFGHANISCHEN

کښې کیښو دد ااو دده هغه مختصره څیړنه چه بې په

GRUNDRISS DER IRANICSCHEN PHILOLOGIE

کښې کړې ده د پښتو ژب پوهنې په برخه کښې ډیر مهم کار او دایرانی فلالوجی (دلته ایرانی یوه اصطلاح ده چه ژب پوهانو دژبو د یوې ځانته څانګې د پاره وضع کړې ده او په ننی ایران پورې څه اړه نه لری مترجم) دټولو زده کوونکو دپاره یو ډیر سترد استفادې وړ ماخذ دی.

وروسته له دې د ایرانی ژبو په برخه کښې علمی ذخیره له دوو خو اوو یعنې هم د نو یو لهجو د مطالعې له درکه او هم د هغو لیکنو د پیدا کیدلو او خپریدلو له لارې زښته زیاته شوه چه په مرکزی اسیا کښې پیدا شول او د منځنیو ایرانی ژبو ډیر زیات متون په کښې کښل شوی دی.

البته په دې ژبو کښې هم کومه چه په رښتیا سره د پښتو د تحول د روښانولو په برخه کښې خاص اهمیت لری هغه د شرقی ترکستان دساکانو ژبه ده.

کوم کارونه چه په دې وروستیو کلونو کښې ترسره شوی او زموږ د پښتو پوهنې سره ډیره زیاته مرسته کوی هغه دادی:

د هند ژبنۍ څېړنې لسم ټوک

هغه برخه چه د پښتو دپاره وقف شوې ده دجې.جی.لوریمر «دوزیری پښتو ګرامر او لغت د کلکتې چاپ -۱۹۰۲» چه د پښتو لهجو یو ازینۍ رساله ده- دډی.ال.ار.لوریمر «د محلی پښتو نحو- اکسفورډ ۱۹۱۵» او د قاضی احمد جان «پښتو- پیښور بهاری لال.» چه یو کوچنی مګر ډیر مفید اثر دی.

دغه ډول یو لړ نور اثار هم شته چه باید دلته یاد شی او هغه دا دی:

د مولوی محمد اسمعیل خان عالی اثر یعنی «خزانهٔ افغانی. لاهور ۱۸۸۹ع» چه ګایګر ته په ګوتو نه دی ورغلی.

د (روس کیپل) «پښتو رساله- لندن»، او د (ملیان)، «ځینې مروجې پښتو ولسی کیسې»،

دغه ډول هم دتو مانوچ «لنډ گرامر او لغت تاشکند ۱۹۰۸ع» چه ماته په گوتو نه دی راغلی او ددې امید هم نه کیږی چه دې څه زیات نوی مواد پکښې وی.

په پای کښې په ۱۹۲٤ع کښې کله چه یو ژبنی هیات د نار وې د بشری ثقافت د مقایسوی څېړنې د مؤسسې له خوا افغانستان او پېښور ته مقرر شو، د لته ما هم موقع وموند له چه د بیلو بیلو پښتو لهجو په برخه کښې مواد راټول کړم - او هم دغې مؤسسې په ۱۹۲٦ع کښې زه په دې قادر کړم چه په لندن کښې د «پټانانو» مانو گانو په مرسته خپلو څېړنو ته دوام ور کړم.

دغه ډول په برلین کښې زما د څوورځنی توقف په موده کښې افغانی سفارت چه غړی یې په بیلو بیلو لهجو گړیدل؛ له الطاف نه ډکې مرستې راسره وکړې.

لنډه دا چه اوس نو «د هند د ژبنیو څېړنو» د پښتو برخې، د (لوریمر وزیری گرامر) او زما خپلو تحقیقاتو د ومره مواد راپه گوتو کړی دی چه دې د پښتو متعدد ې لهجې صنف بندی کړی شی.

باید وویل شی چه د پښتو کلماتو د ژبنی تشریح د پاره د لهجو اشکال ډیر زیات اهمیت لری، خو په دې برخه کښې ډیر زیات کار پاتې دی چه باید ترسره شی او هیله ده چه د سرحد د دواړو خواو و تحصیل یافته افغانان به د بریټانیې د مامورینو په څېر د جلاجلا لهجو له تشریح سره دلچسپی ومومی او د لهجو متون به خپاره کړی.

اما څرنگه چه فارسی الفبا (د لیکوال مطلب همدغه د پښتو معمو له الفبا ده چه له آره فنیقی او د عربی الفبا په نامه معروفه ده - مترجم) د تلفظ باریك تو پیرونه - نه شی ښودلای او ثبتولای، نو له دې امله به ښه داوی چه د دغه کار د پاره د رومن توری په کار شی.

د دې خبرې ډیر زیات اهمیت په دې کښې دی چه په دغه ډول خپرونو کښې باید د گړیدا یو ځانته شکل د اساس په توگه ومنل شی. او بیا دا باید دورایه څرگنده شی چه او ښتلې بڼه په کومه جغرافیایی سیمه او یا پرگه پورې اړه لری -.

حتی د (لوریمر وزیری گرامر) به هم هلته له ژبنی او عملی دواړو خواو و ډیر زیات مهم وری، چه د داسې شکلونو د رست ویش په کښې راغلی وای، لکه: «لمر» - «میر» «مر» یا «دلې» - «دیلې» «دولې» - دلته او داسې نور.

اما په خاص ډول سره د هغه جامع قاموس پخوانی چاپ چه د یوې افغانی رسمی ټولنې له خوا د سردار محمد زمان خان تر ریاست لاندې ترتیب شوی دی، د لهجو ویش او توپیر له هغه څخه چه هیله کیږی زیات ښودلی دی.

(پاتی په ۵۸ مخ کښی)

میاجان اقرار

زما انتخاب

هرهرڅوك په هره لار روان دی. څوك یوشی خوښوی اوڅوك بل څیز. چاشپه اوورځ په ځان یوه کړې وی اوهڅه کوی چه د نیایی کار اوباریې ښه شی. جګې ښکلی، موټرونه اوپه زړه پورې خوراك اوپوښاك یې په نصیب شی څوك دعلم اوپوهې دحاصلولو دپاره کوښښونه کوی. اودیته خوشالیږی چه سبابه مې په درد وخوری، دلوی منصب اوجګې څوکۍ خاوند به شم، او څوك لاداسې هم شته چه دخپل پولې او پټی دزیاتولو دپاره دنورو ځمکی ترستر ګو لاندې کوی. او یوازې په همدې خوشالیږی چه کال ته مې خورداو پاوغله زیاته شی اوځینې په دنیایی عزت اورسوخ پسې هڅه کوی. ځانته لارې چارې لټوی. ځینې دډیرمال اواولاداو دمټ دزرو په ارمان وی. لنډه دا چه ځینې عاشقان وی، شپه او ورځ د خپلې معشوقې دسروشونډو- توروستر ګو- سپینو غاښوستاینه کوی. دشراب او کباب- ساقی اوډك جام - ساز وسرود په غم کښې ډوب پراته وی.

څوك شاعران دی. ښکلی له خپلې ښکلا اودښکلونه بې خبران ددوی سپین مخ-زلفو قد اوقامت اودوجودنورې ښکلاته متوجه کوی.

کله دخپلې شاعری په خیال اوجرت کښې پاس په اسمانو کښې چکروهی. کله راښکه شی، دلویو اوڅپاندو دریابونو په موجو کښې مخ ښکته لاهووی. کله کله داسې هم وشی چه اسمانونه او دریابونه پریږدی، راټوپ کړی د کونډې اویتیم- فقیر اوملنګ سره جوخت روان شی. کورپه کور ټوك ټولوی اوګدا یی ورسره کوی اوبیا په یخ نغری ورسره ناست وی کله مړې مړې اوښکې ورسره تویه وی او کله یې اوښکې پاکوی.

هو! شاعر هر هرڅه کوی په خپل خیال کښې، کله یو څه شی او کله بل څه. کله او رشی او کله اوبه؛ کله دپسرلی په صفتونه مړیږی او کله یې د خزان په شکایتونو زړه نه یخیږی. کله له باد اوباران سره لوبې کوی. او کله دشنه چمن اوسرو ګلو مالیار او خدمتګار شی، کله په مینه کښې دومره ډوب شی چه ته به وایې داخوار دسلو کالو مین دی او کله دلیونتوب اوڅیرې ګریوان دومره ستاینې کوی چه ته به وایې:- که په دې دنیا کښې لوړ مقام دی خو همدا دی او بس.

کله ژاړی او کله خاندی او کله کله دنورو په ژړا اوخندا پورې هم خاندی:

هو! ماخو پخوا وویل چه هرڅوك هرڅه خوښوی مګر زما انتخاب ته خو هم وګوری.

چه په دې دنیا کښې ماته څه په برخه شوی دی او په څه خوشالیږم ؟

زه وایم چه زمانور هیڅ پکار نه دی. که وږې یم یا بربنډ روغ یم یا ناروغ - خلک را باندې ښه وایی یا بد هیڅ پروا نه لری . فقط دهغه وخت په انتظار یم او زما به هغه وخت دنیکبختۍ او خوشالۍ ساعتونه او دقیقی وی چه : دما زیګرګو دروی . هلته زه یم - یوې خوا ته دپسرلی دباران شړپهار د منګی ټنګ - زما دمرورې محبوبې دبنګړو شرنګ - او دمنګی له ډکو لوسره ددې دڅو کالونه وروسته یو ځل بیا د پخلا کید و په کړس .

(د ٥٦ مخ پاتی)

لوس دپښتو لهجو او په عمومی ډول سره دایرانی ژبو په برخه کښې وافر معلومات او هم دهغو ګاونډیو هندی ژبو په برخه کښې دمتعدد ومهمو اثارو نشر چه پښتو نیغ په نیغه ډیر زیات کلمات ور څخه پور کړی دی - امکان په لاس را کوی خود هغه بنسټ دپاسه نور زیات کارهم وکړو چه (ګایګر) یې موسس دی .

البته په پښتو فونولوجی «دفونیم دتشریح پوهنه» او اټمولوجی پورې مربوط ډیر زیات مسائل تر اوسه لاجړ پر او مبهم دی . اما څرنګه چه نوموړې ژبه یعنې پښتو د ایرانی ژب پوهنې دمطالعې په برخه کښې فوق العاده اهمیت لری نوله دې امله زه فکر کوم چه دیوه اټمولوجیکی لغت تالیف به په دې برخه کښې ضرور او ډیر زیات ګټوروی .

په دې کار کښې به تر کوم ځایه چه ممکنه ده باید د هغو نویو مواد وڅخه استفاده وشی چه دمخه یادشول او په لاس کښې دی .

طبیعی ده چه یا به د دغه تالیف توضیحات په ډیر وزیاتو برخو کښې د (ګایګر) د توضیحاتو څخه جلا او یا به د هغو اصلاح وی .

په ځینو برخو کښې نوی مواد - ددې اجازه را کوی چه دې دا کار په پوره ډاډ سره تر سره شی . مګر په ځینو برخو کښې به توضیحات هسې په تذبذب کښې پاتې شی .

دلته به ډیر زیات لغات چه (ګایګر) له آره پښتو بللی دی - داسې ثابت شی چه د ځینو نورو ګاونډیو ژبو څخه اخستل شوی دی . له بلې خوا ډیر زیات لغات دی چه (ګایګر) پرې ایښی دی مګر موږ به یې اوس په قطعی ډول سره اټمولوجی وښود لای شو .

دغه ډول یو ډیر زیات شمیر لغات پاتې کیږی چه د فونټک ساختمان له نظره هر ومرو یا ښایی پښتووی او ددې څرک پکښې نه لګیږی چه دې پور شوی لغات وی .

مګر دڅرګندې اټمولوجی ښودل یې لږ څه ګران ایسی چه هیله ده دکره پوهانو په مرسته به تر ممکنه حده توضیح او حل شی .

د غم زپلې افریقې مظلومو

په بیدردی د استبداد ژرنده کښې دل کړلی شول ☆ خپلو ځانونو ته لږ فکر و کړیء
چه د سپین مخو په شان تاسو دنیا کښې انسانان یې ء که نه؟
شکر دی شکر چه را ویښ شولیء نن ستاسو هم سره وینه راوخوټکیده
دطو فانونو د که شپه کښې موفر یادو کړ او بیا را پور ته شولیء
هغه او از موچه په زړه کښې پټو دتند رو نو له آوازه تیزشو
او په یو رپ یې لوی هیبت راوستو په سپین انسان ستاسو سندر ویو تورتم جوړ کړو
دغه سندرې دسرو وینو مشالو نه لاس کښې ☆ دوړندې شپې تورو تیارو کښې هره خراخپرې شوې
سهار کیدونکی دی اوس را خو شیء واوریء دزړه کو کې زما
دزړې سیمې افریقی په افق دنوی لمر درا ختلو وخت دی
دا ټو له مځکمه به زمو نبزه وی بس داځلید ونکی در یا بو نه دغلیم له وا که
اوس به هم ستاسو شی بس اوس به رڼاد راختلی لمرزمو نبزه وی تل
او ښکې زمو نبزه داتو دی وړانګې دلمر تاسو به وو ینیء چه زروچې کړی
د غه ده وګوریء دپښو زولنې وشلیدلې د ظلم شل ما تیبزی لاس دظالمانو شل شو
له دغې تورې خاورې یو ه تو ریالی آزاد کانګو را پورته شوی بولیء
د تو رو تو رو تو ریالو دسترګو تور کانګو دی داستعمار دهر قدم دپاره اور کانګو دی

دپښتو ټولنی دمسلکی غړو علمی ترفیعات

اودنو وغړو او کارکونکو ومقرری

دپښتو ټولنې دمسلکی غونډې په مننه (چه اصلی او افتخاری غړی په کښې و) اودوا کمنې جرګې په تائید دغو اشخاصو سبز کال د دلوی له ابتداء نه په دې ډول علمی ترفیعات کړیدی:

۱ - ښاغلی قیام الدین خادم او ګل پاچا الفت دڅېړنوال له درجې نه د (څېړندوی) درجې ته

۲ - ښاغلی حبیب الله تبزی او محمد ابراهیم ثابت دڅېړو نکی له درجې نه د (څېړنیار) درجې ته

همدارنګه ښاغلی محمد دین ژواك او محمد عالم اتمان د بست د ګنجایش په صورت کښې دڅېړنیار ددرجې دامتیاز مستحق و ګڼل شول.

۳- ښاغلی محمد صدیق روهی دادبیاتو دپوهنځی لیسانسه او عبدالله بختانی دننګرهار دمجلی مدیر دڅېړونکو په حیث منل شوی او مقرر شویدی.

٤- ښاغلی عزیزالله ورین او محمد مومن د ادبیاتو پوهنځی لیسانسه د څېړونکی د درجې د کاندیدانو په حیث مقرر شویدی.

2 - AUG - 1
Copy ____ 1961

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Paeha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه